PROPERTY OF ACKU

فرمان الهي(ج)

بخوان وپروردگار توبزرگوارتر است
آنكه علم آموخت به وسيله قلم.
(العلق. آيات ٣-٤)

اراده

ارشاد نبوى(ص)

آموختن علم برهر مرد وزن مسلمان فرض است.
(رواه مسلم)

لومړى كال، يوولسمه گڼه، دوشنبه د ١٣٨٠ هـ ش كال دوري ٢٧، د ١٤٢١ هـ ق كال دمحرم الحرام ٢٣ د ٢٠٠١ م كال داپريل دمياشتې ١٦

اختلاف نظر در اهداف است نه در وسيله رسيدن به آن

حركت روم براي برگشتن [illegible] آغاز [illegible] است

جلسات گروپ چار تحت نظارت سازمان ملل متحد به اشتراك نماينده گان كشور هاي امريكا، جرمني، ايتاليا و ايران بخاطر همآهنگ سازي فعاليت هاي صلح جويانه پروسه هاي روم، بُن و قبرس در ژنيو روز دوشنبه نهم اپريل آغاز يافت.

دراين جلسات ازهيات و نمايندگان پروسه هاي روم ، بن و قبرس هم دعوت بعمل آمده بود. اما تنها نماينده گان جلسات قبرس در آن حضور يافتند.در رابطه با عدم اشتراك نمايندگان حركت روم محترم هدايت امين ارسلا وزير خارجه اسبق افغانستان ويكي از اعضاي شوراي تصميم گيري حركت روم به خبرنگار «اراده » گفت:

حركت لويه جرگه كه از سوي اعليحضرت پادشاه سابق افغانستان به
بقيه ص٣

محترم هدايت امين ارسلا

مطبوعاتي اطلاعيه

بسم الله الرحمن الرحيم

روم، داپريل اوم، ٢٠٠١ م كال،
دبين الافغاني تفاهم او دنظرونو د تبادلې په لړ كې دقبرس دغونډې داجرائيه شورى يو هيأت د دوه زره او يو ميلادي كال داپريل په پنځمه په روم كې داضطراري لويې جرگې دحركت داجرائيه هيأت دغړيو سره دكتنې په ترڅ كې نظريات تبادله كړل.
دكتنې او مذاكراتو په بهير كې څرگنده شوه چې دقبرس دغونډې هيأت داضطراري لويې جرگې له پاره دپخواني پاچا اعليحضرت محمد ظاهر شاه د دري فقريز پلان له بنسټيونو، او داضطراري لويې جرگې سره چې دافغانستان دخلكو د آزادي ارادي ممثله ده موافقه نه درلوده او دهغې پر ځاى يې د « ملي لويې شورا » دجوړيدلو وړانديز وكړ چې په حقيقت كې د اوسنيو سياسي او ائتلافي ډلو د تشكيل متضمنه او د دوى د توافق ايجاب كوي.
څرنگه چې دا پيشنهادونه داضطراري لويې جرگې له پلان سره تضاد لري نو ځكه دطرفينو ترمنځ دمذاكراتو په پاى كې توافق حاصل نه شو. په درنښت په روم كې دپخواني پاچا دفتر

هزاران مامور اداري و نظامي سبكدوش ساخته شد

٧- اپريل، كابل
هزاران مامور دولت بجرم وابستگي با رژيم هاي سابق از وظايف شان سبكدوش ساخته شدند. بي بي سي به نقل از مامورين دولتي در كابل گزارش داد كه يكهزارو ششصد نفر از وزارت داخله به شمول افسران و چند هزار تن ديگر از وزارت دفاع اخراج شده اند.
طبق اين خبر ، بركنار شده گان را اكثراً افرادي تشكيل ميدهند كه در رژيم هاي گذشته عضويت داشته ، مدال هاي افتخاري بدست آورده ويا در كشور اتحاد شوروي سابق تحصيل كرده اند.
اين بار اول نيست كه طالبان دست به چنين اقدامي زده اند ، در هر اقدامي از اين نوع خواسته اند افراد مورد نظر خويشرا در پُست هاي دولتي بگمارند.

احمدشاه مسعود اروپا ته له سفر نه وروسته:

اروپائيان مو په افغانستان كې د پاكستان په لاسوهنو قانع كړل

دوشنبه داپريل ١٠:
دافغانستان دمتحدې جبهې پوځي مشر احمد شاه مسعود په اروپائي هيوادونو كې له يو شمېر ليدنو كتنو وروسته بېرته راستون شو او خپل سفر يې بريالى وباله.
دوركړ شويو خبرونو له مخې: احمد شاه مسعود د دوشنبې په هوائي ډگر كې په دې خوښي ښكاره كړې چې اروپائي ټولنې ته يې په افغانستان كې د پاكستان په لاسوهنو قناعت وركړى او
پاتې (٧) مخ

دپاكستان پوځي واكمن جنرال پرويز مشرف:

د طالبانو په حذفولو سره به دافغانستان حالات ډېر خراب شي

دوركړ شويو خبرونو له مخې: دپاكستان پوځي واكمن جنرال پرويز مشرف په دې وروستيو وختونو كې دخپلو مركو او دملگرو ملتونو له سرمنشي كوفي عنان سره په تيلفوني خبرو كې له همدغه امله ويلي چې: پاكستان نه غواړي دهيواد په لويديځ پاكستان ته دې دزړو فكرونو دراوستلو مخه ونيول شي
اسلام آباد :مور له طالبانو سره دخپلو ملي امنيتي مسايلو په رڼا كې نږدې روابط لرو، ترمور بل څوك طالبان ښه نه پيژني او په ځينو چارو كې دهغوى څخه خواشينوونكې دي.
پاتې (٧) مخ

علت عمده مهاجرت افغانها را جنگ و گرسنگي تشكيل داده است

درجلوزو هزار ها انسان فاقد ابتدايي ترين شرايط زندگي شب وروز سپرى مى نمايند

اخيراً محترمه بي بي مريم گيلاني ضمن بازديد از كمپ جديد مهاجرين افغان در جلوزوي پشاور ، يكمقدار مواد مور د ضرورت اوليه را به عده يي از خانواده هاي مهاجرين افغان توزيع نمود. خبرنگار ما با استفاده از فرصت ، صحبت كوتاهي را با ايشان انجام داده است كه تقديم ميگردد:
محترمه بى بى مريم در رابطه با هدف بازديد ش از كمپ وو ضعيت موجود در آن مي گويد:
هدف من در بازديد از كمپ مهاجرين تازه وارد درجلوزو ديدن وضعيت اين عده از هموطنان، رساندن كمكهاي بشري به آنها ورساندن صداي شان به جهانيان بود، تا آنكه
بقيه ص (٨)

محترمه بي بي مريم گيلاني

توزيع مواد در كمپ جلوزو

هيأتهاي طالبان و امريكا:

مذاكرات سود مندي را انجام دادند

دوحه: مولوي وكيل احمد متوكل و داناروارابكر عضو مهم كانگرس امريكا در دوحه پايتخت قطر راجع به جريانات اوضاع افغانستان مذاكره كردند.
طبق گزارشهاي واصله: مذاكرات بين طرفين به اهتمام وزارت خارجه قطر تدوير يافت گرچه رورابكر طرح صلح خويشرا به طالبان ارايه داشته اما جزئيات آنرا به رسانه هاي گروهي توضيح نه داده است.
رورابكرميگويد اين طرح غير رسمي است اما سعي مي ورزيم كه نظر رسمي كانگرس هم گرفته شود. طي اين ملاقات راجع به تحريم هاي افغانستان، قضيه اسامه بن لادن و حقوق زنان در افغانستان بحث
بقيه ص٧

آگاهي

بادرنظرداشت علاقمندى خواننده گان محترم جريده بخاطر ازدياد نشرات به زبانهاى ملى كشور (پشتو ودرى) و تقاضا هاى پيهم شان، اداره جريده تصميم اتخاذ نمود كه از نشر مطالب به زبان انگليس دست گرفته و به مشوره ها و خواست علاقمندان «اراده» ارج گذارد. خواننده گان محترم مى توانند از همين شماره مطالب تهيه شده را به زبان هاى ملى كشور در هشت صفحه جريده مطالعه نمايند.

ددې گڼې مطالب

درجلوزو چې ميگذرد؟
خبرنگار جريده ص٨

نوروز، روزيست بيشتر داراي جنبه هاي زراعتى و اقتصاد فلاحتى (دشتى) ص٢

ځمكې تبريزى خو مخ توري يې سكروته پاتې كيږي (مجاهد) ص٤

درد غربت الپتگين ص٢

غرونه چا سوري كړل او شيرينه به څوك وړي (فايض) ٦ مخ

محمد آصف صميم

افغانان دلته سياسي مهاجر دي نه اقتصادي

دروېښت كاله وړاندې چې په افغانستان كې دسره انقلاب له لاسه دهيواد لويشت لويشت ځمكه پر افغانانو سره تنگه شوه او افغان اولس (لومړى روږانديو او بيا ټولو) دخپل گواښېدلي او زيانېدلي فردي پېژند او هويت دراستنولو په نيت له خپل هرڅه نه لاس ووينځه او پر پولو راواووښت ، نو په سلو كې پر يوه هم څوك نه شي زياتولاى ، چې گڼې دغه پنځه ميليوني نړيوال لېږد او هجرت داقتصادي انگېزو له مخې واو يا گڼي
پاتې (٣)

چې تاريخ يې لاتراوسه غلام بولي
داغلام به نو افغان څنگه غلام كړي

زره سواند

اراده

دتأسيس کال: ۱۳۷۹ هـ ش

پنځلس ورځنۍ خپلواکه تحليلي خپرونه

دامتيازخاوند: افغان نشراتی مرکز

مؤسس: سيد داؤد

مسوول مدير: عتيق الله پژواک

دکتونکي ډلې په مرسته

پوست بکس: ۹۰۹ يونيورستی ټاون، پېښور

تيلفون: ٤١٦٩١، فکس: ٨٤١٧٨٥

E-mail: amrc@brain.net.pk

دلوی خدای په نامه

سرمقاله

داوړی به شړی نه شي

په افغانستان کې دثور دکودتا په تېره بيا د پخوانی شوروي اتحاد دپوځونو د راتګ او جګړې دپيل سره سم دلومړی ځل لپاره د پخوانی پاچا محمد ظاهر شاه مرکه دفرانسې دلوموند له ورځپاڼې سره وشوه چې ترديې روسته يې تل خپله همدردي او ملاتړ د افغانستان له ولس څخه په منظم ډول دډله ايزو اړيکو وسايلو له لیاري څرګنده کړې ده.

نو کله چې دپخوانی شوروي اتحاد دپوځونو دتلو کار پيل شو دملګرو ملتونو سازمان ديوې پرېکړې سره سم دخپل سرمنشي ځانګړي استازي بينان سېوان تر مشرتابه لاندې ميدان ته راودانګل، ددې پرېکړې دعملي کولو په خاطر د ۱۹۸۹ څخه تر ۱۹۹۲ کلونو پورې هلې ځلې وشوې خو هغه د افغانستان ملي او بين المللي دښمنانو سبوتاژ کړه او کورنۍ خونړۍ ورانوونکې جګړه ورسره پيل شوه دجګړې ددرېدو او دسولې دټينګېدو لپاره پخوانی پاچا داضطراري لويې جرګې دجوړېدو دريې فقريز پلان اعلان کړ چې د افغانستان دننه او دمهاجرينو په مېنځ کې ورته تود هرکلی وويل شو.

مګر دکورنيو او باندنيو دښمنانو دبيا بيا دسيسو په بنسټ داهل حل وعقد دشوراګانو لکه دراولپنډي، جلال آباد او اسلام آباد فرمايشي شوراګانې او توافقاتو داضطراري لويې جرګې په لار کې پوره خنډونه جوړ کړل، ددې له امله کورنۍ جګړو نور هم زور واخست ترڅو چې بيا کويټه کې دملګرو ملتونو دځانګړي استازي محمود مستري تر نظر لاندې د ۱۹۹٤ کال دسپتمبر دمياشتې مجلس جوړ شو. دلومړی ځل لپاره د افغانستان دقضيې دحل په اړوند مؤثره اشخاص راټول شوي وو او پرېکړې يې هم دسولې دراتګ لپاره ګټوري وې خو کورنيو او باندنيو دښمنانو ديوې خوا دطالبانو تحريک دسپين بولدک څخه په همغه وخت کې پيل او دسولې تر شعار لاندې يې د استاد رباني، قوماندان احمد شاه مسعود او استاد سياف په کومک پر مختګ وکړ او دکابل تش په نامه داستاد رباني حکومت دمحمود مستري پلان ته دقدرت دانتقال په باب منفي ځواب ورکړ، طالبانو پرمختګ وکړ ترهغه چې دجګړې اصلي اړخونو يعنې دقوماندان مسعود دځواکونو سره مخ شول او تر ننه دورور وژلو جګړه دپرډېو په مرسته روانه ده.

دطالبانو دتحريک او دقوماندان احمد شاه مسعود جګړو د هېوادوالو نهيلتوب لازيات کړ او هېوادوالو هر لوري ته دسولې دحرکت انتظار کاوه، پخوانی پاچا محمد ظاهر شاه خپلې هڅې توندې کړې دافغانانو او دبهرنيو سوله دوستو هېوادونو لخوا ورته هرکلی وشو مګر ددې په خوا کې دقبرس په نامه دسولې حرکت هم پيل شو که څه هم دپېل نه دا حرکت دايران په مادي او معنوي مرسته ترسره کېدو او ددې حرکت ملګري افغانان دجګړې نه ستړي ښکارېدل، هر شريف افغان سولې ته پر جنګ برتري ورکوله او يو شمېر افغانانو ورسره همکاري هم پيل کړه که څه هم ځينې افغانانو دقبرس حرکت دروم دسولې دحرکت خنډ باله خو يو شمېر افغانانو هڅه کوله چې دواړه يو ځای او هېواد ته دسولې دراتګ په لار کې ګټور کار وکړي. ددې دوو حرکتونو درې غټ توپيرونه دافغانانو په اند دادي، لومړی دا چې دروم په حرکت کې عنعنوي لويه جرګه دټولو افغانانو ګډ وياړ او دټولو لخوا دتائيد وړ دی مګر دقبرس د «شورای بزرګ ملي اصطلاح» دافغانانو په ذهن دشورای اهل حل و عقد سره کوم توپير نه لري او ولس ترې زړه بورنوونکې خاطرې لري. دويم ټکي د روم دسولې په حرکت کې پخوانی پاچا محمد ظاهر شاه ديوه سپين روبي کوربه په توګه نه دلويې جرګې دمؤسس يا زعيم په توګه مطرح دی بلکې محمد ظاهر شاه دافغانستان واقعي استازي رابولي دمشر ټاکل دملت داستازو کار دی نه دا چې

پاتې په (۷) مخ کې

دمجاهد ليکنه | ددې ګڼې تبصره

ژمی تيرېږي خو مختوری يې سکروټه پاتې کېږي

په هغو شېبو کې چې زما پرقام دجبر او استبداد، داوسپنې ژرندې ګرځيدې او زما مجاهد ملت ددې استبداد او تېری په وړاندې لکه لوړ هندوکش دکمونيزم د خونړی سېل په وړاندې ودرېد، نو ته مې ليدلې چې لکه دترهېدلې چوغکي په شان چې دشاهين دپنجونه دخلاصون په امېد، له سر نه تر پښو پورې رېږدېدې، کله به يوې ونې او کله به بلې ته تېښتېدې، پټېدې، رېږدېدې او چغېدې... خو کله چې دې زما دپېړيو پېړيو قهرمان قام وليد چې دکمونيزم پر سرو لښکرو يې ناتار جوړ کړ او دانتقام داور لمبې يې آن دهغوی له ټانکونو، الوتکو او نور جنګي سازو سامان نه پورته شوې.

پس له هغه وپوهېدې چې دا هماغه دميوند، پاني پټ، ګندهارا او ديبالپور غازيان دی، چې انګريزانو دهغوی لاسپوڅي هندوان او متعصبو سکانو ته يې تاريخي درسونه ورکړي وو، او اوس په هماغه شان او پرتم دروسانو مقابلې ته ولاړ دی او ورسره دغرې وهي، ايله دې غوږونو ته ويني راغلي او له زيږ غوږي نه سور غوږي شوې!! ميدان ته ووتې زه نه پوهېدم چې ته دڅه لپاره دومره نارې سورې وهې؟ ما دخپل تاريخ په پرتم کې دصداقت او قاطعيت درس زده کړې و چې له پښت، پښتې ماته ديوه غوره کلچر او عنعنې په توګه پاتې و، ماګومان کاوه چې ستا دا غورې دغيرت او اسلامي اخوت غورې دي، مګر نه وم پوه شوې چې ته له وېرې دا چيغې وهې، ترڅو ما دخپلو ګټيو په وړاندې ديوال کړې، قرباني زه ورکړم او ګټې يې ته وتروړې... ما درته کتل، دومره ساده هم نه وم، هو ماليدل چې دنړۍ دنورو دوستو (مګرمغرضو) هيوادو څخه په دې هيله او اميد مجاهدينو ته وسلې، پيسې او اکمالات راتلل چې دوی دروسانو پر ځولو ته وهڅوي، مګر تا څه وکړل؟

ځولی دې ورته وغوړ وله، کومه دانه، کومه پيسه چې ترې لاندې تويه شوه، هغه دې زما قهرمان اولس ته داحسان او انساني همدردی په نوم ډالی کړه... هغه وخت هم مجاهد وم، هم قهرمان وم، هم مرد ميدان وم، مګر دډېر افسوس خبره ده چې تا هم هماغه رويه راسره وکړه چې «انکل سام» لتا سره کړې وه او کوې يې، «دمدعا او غرض پروخت ورور، مګر دمدعا له پوره کېدو نه وروسته دسر دښمن، جاهل ترېور او ناعاقبت انديشه دغاباز ملګرې.»

اوس زموږ دقهرماني پرتم مات شو، ځکه اوس نه روسيه شته او نه دهغه وحشي پوځ او وينې څښونکي نړيوال انډيوالان يې، او نه ددې وېره چې هيوادونه دمنځنۍ آسيا او شرقي اروپا په څير ترګونډو لاندې کړي او د انسانانو پر ککريو خپل جنګي ماشينونه تېر کړي، ځکه خو اوس موږ ته دنړيوالو ضرورت نشته، څوک مو په دې اسره په خپلو منځو کې جنګوي، چې که چېرې په سيمه کې يو غښتلي افغانستان رامنځ ته شي نو ددوی ګټې به له خطر سره مخامخ کړي، او بل له دې وېرې چې داهېواد به داسلامي نړۍ دتير برم دبيا راژوندي کولو لپاره دزرو مليونو مسلمانانو لپاره دامامت مرکز جوړ نشي او بل له دې وېرې چې دمنځنۍ آسيا، ګاونډيو هېوادونو او نړيوال اقتصادي چم کې به يې دمال لپاره مارکېټونه نه موندل کېږي... ځکه خو اوس له يوه پلوه مو پر خپلو منځو کې جنګوي او له بله پلوه مو ترور بستان، غله، داړه ماران، دمخدره موادو قاچاقيران او نور خدازده څه، څه بولې...

مګر دوی بايد دې ټکي ته جدي پاملرنه وکړي چې تاريخ څوک نه بخښي او دملتونو ربښې دتوطيو په نتيجه کې هېڅ کله نه دې وچې شوې، ملتونه ژوندي پاتې کېږي، خو داستعمار ګرو مخونه لکه دانګرېزانو په شان دتل لپاره تور پاتې کېږي...

روسانو هم همدغسې پتيلې وه چې افغانستان ژوندی له ستونې تېر کړي، دملت رېښې يې وچې کړي او افغانستان دتل لپاره دخپلې امپراتورۍ لاينفک جز وګرځوي، مګر نړيوالو وليدل چې دهغوی انجام ددې ملت په وړاندې څه شو... عبرت اخستل په کار دي افغان اولس، نه ايلېدونکی اولس دی، اوس الحمد لله داروحيه په کې ځبانده ده چې دخپل ملي تاريخ په څېو کې خپل ملي هويت بيا مومي، ملي وحدت ته کار وکړي، او په دې لاره کې، سره له دې چې هېڅ هم ورته نه دي پاتې، هرډول قربانۍ ته حاضر شي او داستعمار ګوډاګيان او لاسپوڅي او هغه ناعاقبت انديشه مزدور جنګيالی چې دپرديو په اشاره خپل ورونه وژني سمې لارې ته راکاږي او افغانستان بيا افغانستان شي که خدای غوښتي وي هغه ورځې لرې نه دي، ژمی به تېر شي او مختوري به سکروټه پاتې شي.

«و ماذالک علی الله بعزيز»

درد غربت

«البتکين»

در جنگ و ادامه ی جنگ به طوالت بالاتر از دو دهه درکشور، بهره ی ما نابودی زيربناهای اقتصادی، ويرانی تأسيسات عام المنفعه، پاشيده گی نظام های اداری و تعليمی و آواره گی ميليون ها خانواده ی افغان بوده است که نه تنها به خارج از کشور، بلکه در داخل نيز متواری ويه کوچ های اجباری ودسته جمعی مجبور ساخته شده اند.

در حاليکه بهره ی ديگران، بهره ی طراحان و سرمايه گذاران جنگ، سودهای سرشار و پول های کلانی است که هر آن وارد کيسه ها و کسه هايشان می شود.

دنيا با ناديده گرفتن تمامی مشکلات افغان ها، که در داخل کشور در کدام وضعيت بد اقتصادی و امنيتی قرار دارند ويا در خارج از کشور، با چه اهانت های از سوی بوميان آن سرزمين ها رو به رو اند. تعزيرات اقتصادی وضع ميکند و تحت عنوان «ايجابات منافع ملی» تحريمات بيشتری را اعمال و روا ميدارد.

فقر و بدبختی، خشکسالی های چند سال اخير در کشور، همه مصايبی اند که تن وروان افغانان دردمند و جنگ زده را چون موخوره می خورد. وضعيت آواره گی افغان ها در خارج و بيشتر در کشورهای همسايه رقت بارتر از داخل کشوراست. ميزبانان، مهمانانشان را تحت عناوين بازگشت داوطلبانه! مهاجرين غير قانونی! وصدويك نام ديگر، دور از همه موازين و مقررات پذيرفته شده بين المللی به داخل افغانستان« شوت» ميکنند.

تصميم و روش مقامات صوبه ی سرحد پاکستان در قبال هموطنان مهاجر ما، طی هفته های اخير خاطره عملکرد مقامات جمهوری اسلامی ايران را مخصوصاً در « استان خراسان» طی سال های اخير، زنده کرد.

آنان چه بسا که مردان خانواده ها، سرپرست خانواده ها و نان آوران خانواده ها را از روی جاده ها و خيابان ها برداشتند و رد مرز کردند، اينان نيز همان گونه کردند.

آنان برای خانواده ها، که اکثر عزيزانشان را در جنگ ها و هجوم رگبار مسلسل ها و راکت ها و بمباردمان ها از دست داده و داغدار بودند، داغ ديگر وسرگردانی ديگر و غمنامه ی ديگر آفريدند، پوليس صوبه سرحد نيز چنين کرد، مردانی و نان آورانی را بدست سرنوشت سپرد و زنان و کودکانشان را اينجا بی نان و بی نوا کرد.

در شمار صد ها خانواده ی که قربانی اين اقدام جسورانه وجدا از موازين و مقرراتی که کشور ميزبان در پای آن، در کنار ساير کشورها، درجامعه ملل، صحه گذاشته و تعهد نموده است يکی هم خانواده ی محمد اسمعيل است.

او دارای خانم و شش فرزند، دو پسرو چهار دختر است که کلانترين آنان سيزده سال و خوردترين آن دوسال عمر دارند. آيا فردا چه کسی بار زندگی اين خانواده ی هفت نفری را به پيش خواهد برد.

مصطفی ۱۲ ساله يا مجتبی ۱۱ ساله و آنان در پشت کارگاه های قالين، از صبح تا شام چقدر «علمك» و «شانه» بزنند که در پايان ماه صد کلداری مزد بگيرند و مشتريان واستفاده کننده گان آن قالين، همان هيمه ريزان جنگ های کشور ما، در آنسوی اوقيانوس ها باشند. آيا فردا چه کسی کمك خواهد کرد تا آنان به افغانستان برگردند و از مهمان نوازی، ميزبانانشان که از بد حادثه اينجا به پناه آمده بودند، تشکر کنند.

اگر ما افغانها تفاهم ميکرديم، اگر همديگر را درك ميکرديم، اگر کنار هم می ايستاديم و شالوده ی نظام فراگيری را که در سايه آن استقلال، تماميت ارضی و حدود و حقوق و آزادی و حفظ کرامت و حيثيت انسانی، تسجيل و معين می بود که هنوز هم وقت است می توانستيم و می توانيم از ادامه ی مصيبت هابی که هم اکنون دامنگير ماست در همه ابعاد آن جلوگيری کنيم که اين مربوط به ياری خداوند متعال و اراده ی ما افغانان می باشد.

****

اختلاف نظر دراهداف است نه دروسیله...

راه انداخته شده و امروز بنام حرکت روم یاد میگردد، حرکت حزبي، تنظیمي ویا گروپي نبوده بلکه یك حرکت عمومي است که در آن همه اقشار واشخاص افغاني بگونه مستقیم و غیر مستقیم سهم گرفته میتوانند ، این حرکت به این هدف راه اندازي نگردیده تا شخصي و یا گروهي را در افغانستان بقدرت برساند. هدف آن فقط و فقط اینست که مردم افغانستان فرصت آنرا پیدا کنند که نظامي را مطابق به خواسته خودشان در افغانستان بوجود بیاورند تا صلح برقرار گردد و هر فرد ملت افغان در ایجاد این چنین نظامي ، احساس سهمگیري و مسوولیت بنماید که در آن تبعیض براساس قومیت، لسان و یا جنس وجود نداشته باشد.

در شرایط کنوني این آرمان از دید ما تنها از طریق تدویر یك لویه جرگه اضطراري مي تواند برآورده شود. در چنین حالت وقتیکه صحبت از بوجود آمدن احتمالي یك اتحاد بین حرکت روم و یا گروپ هاي دیگر بمیان مي آید مقصد آن اتحاد و یا ائتلاف باکدام گروپ سیاسي خاصي نیست، زیرا حرکت روم خود گروپ سیاسي مشخصي نبوده بلکه حرکتي است زاده تفکر عمیق یك شخصیت بزرگ افغاني و ریش سفید با تجربه یي که از ملت افغان بصورت مجموع خواسته اند تا دور هم جمع شده و مشکلات موجود را از طریق صلح و سلم و تدویر لویه جرگه عنعنوي خود حل نموده و کشور شانرا ازین ورطه هلاکت بار نجات دهند.

بادرنظرداشت یك چنین هدفي تلاش هاي بعمل آمده است تا در چوکات امکانات محدود با همه جوانب درگیر در قضایاي افغانستان مذاکراتي صورت گیرد و همکاري شان بخاطر تدویر لویه جرگه اضطراري جلب گردد. به همین اساس از مسوولین جلسات قبرس دعوت به عمل آمده بود تا به روم تشریف آورده روي موضوعات مطروحه بحث نمایند تا تفاهمي در جهت هماهنگي تلاش هاي صلح جویانه بوجود بیاید، ولي متاسفانه با وجود این دعوت وحتي فیصله جلسات قبرس قبل از دعوت که باید هیأتی را براي انجام مذاکرات و تفاهم به روم بفرستند ، هیات اعزامي قبرس از انجام مذاکرات پیشنهاد شده از سوي دفتر پادشاه سابق افغانستان ابا ورزیدند، و قرار اظهار شخص اقاي همایون جریر، ایشان تنها به اشاره و دعوت وزارت خارجه کشور ایتالیا حاضر شدند که با یك عده از همکاران حرکت روم روي میز بنشیند و تبادل نظر نمایند، که طي آن هم نکات اساسي حرکت روم را که به نظر ما از پشتیباني قاطبه ملت افغانستان برخوردار است، رد نمودند.

ناگفته نماند که این نکات عبارت اند ازاصل تدویر لویه جرگه اضطراري ، بگمانم (ایشان یك مجلس کبیر اسلامي مانند شوراي اهل حل وعقد را میخواهند) ، پلان سه فقره یي شاه سابق که حرکت روم روي آن استوار میباشد و بالاخره رول مرکزي پادشاه سابق افغانستان منحیث یك ریش سفید و بزرگ ملت افغانستان در دعوت اعضاي اشتراك کننده در لویه جرگه.

یه این اساس واضح گردید که اختلاف نظر در اهداف است نه در وسیله رسیدن به آن.

آقاي جریر ادعا نموده اند که حرکت روم زعامت آینده افغانستان را از قبل تعیین نموده است حال آنکه چندین بار براي همه ملت شریف افغان واضح ساخته شده است، واین کلمات شخص اعلیحضرت میباشد که:« حرکت روم براي برگشتن کدام نظام خاص، فامیل خاص و شخصیت خاصي آغاز نگردیده است، بلکه محض براي آن بوده است که ملت زعامت خود را خود انتخاب نمایند».

سوال فقط در دعوت اشخاص براي اشتراك در لویه جرگه است که اشخاص از نام کدام شخصي دعوت شوند ، چه در گذشته ها این دعوت ها بصورت عنعنوي یا از سوي شاه و یا یك بزرگ قوم صورت گرفته است.در حالات فعلي افغانستان یقین دارم که اکثریت ملت افغان طرفدار آن خواهند بود که چنین مسوولیت را به شاه سابق واگذار شوند و دعوت ایشانرا به گرمي استقبال نمایند. قابل یاددهاني است که اگر این دعوت ازسوي شاه سابق صورت گیرد ایشان خود اعضاي اشتراك کننده را تعیین نخواهند کرد بلکه اشخاص براساس میکانیزمي انتخاب خواهند شد که طي آن حضور نمایندگان واقعي ملت افغان که بتوانند از اراده و آمال آنان نماینده گي کنند، تضمین شده بتواند.

مذاکرات روي این میکانیزم قبلاً هم صورت پذیرفته ودر آینده هم مي تواند قابل بحث باشد البته مشروط بر اینکه از اصل هدف تدویر لویه جرگه اضطراري عدول نورزند.

افغانان دلته سیاسي مهاجر دی نه اقتصادي

جرت په دیار کې ځورندي ډوډۍ وي، چي افغانانو وریسي خپل پلرني ویاړلي کور او ټاټوبی شاته کړ.

ددغه واقعیت ترشا دوو عواملو او د «قضبې» «صغرى» او «کبرى» افغانان د «نتیجې» یو اړخ (دجهاد پوځی بری) ، ته ورسول، خود انځور او تصویر دا بل مخ (سیاسي پایله)، لا له بده مرغه تراوسه دځرگندو او جوتو بهرنیو عواملو او انگیزو له امله دهوسی په ښکر کې ده.

دا چي دافغانانو دسیاسي برخلیک په ټاکنه کې د پرله پسې ځنډ او ځنډ راولاړوونکیو لاس تر کوم کوم ځایه غځېدلی، پرهغې خو پېرلي او ورونکي یا لوبوونکی او لوبغاړي دواړه پوهیږي، خو موږ چي دیوه پاکزړي او همېشه غولېدلی اولس په توگه چپ یو، هغه له دي امله چي:

زه پژواک یم، په پېچو مو کي لوی شوی
دا چي چپ یم، دلته غر او کمر نشته

زموږ یوه مخور اوروښاندي مشر خبره کوله، ویلی: ما دخپلو او پردیو په یوه لویه غونډه کي یوه پردي ته وویل چي: افغانان هره شپه دوه دوه رکعته لمونځ (نفل) ددي لپاره کوي، چي له خدای نه غواړي:

خدایه! موږ خپل دښمنان پېژنو، موږ ته خپل دوستان راوښیه!

له بده مرغه همدي ددوستانو نه پېژندنې او دداسي « غره او کمره » نشتوالي چي زموږ ملي ارمان پکي انگازه او پژواک وکړي . زمونږ د ناورین په اوږدولو کي ډېر لوي لاس لرلی دی.

او یوازي همدا دوی نېمگړ تیاوي نه دي، ددي ترڅنگ زموږ پر فضا او حالاتو موثر لوري هم ښکاري، چي یا ځان تېر باسي او یا خواخوږي سلاکاران نه لري، چي ورته ووایي: ،« دوستي تر دښمنی هم اسانه ده او هم ارزانه او هم یې پایلې په زړه پوري دي ». گني دا به کوم یو روغیپوهی او دسالم ذهن خاوند ومني، چي له خپل هغه مېړنی همدین او هم کولتوره گاونډی سره، چي ترهمدا پرونه یي ده «پخپله په جهاد افغانستان ، دفاع پاکستان» شعار ویاړل درویشت کلنو ښېگڼو روژه دلاسو هنو او قوماندې په روژه ماتې ماتوي.

ایا دوی گني دخپلي افغان جهاد خوندي کړي خاوري دبشپړ تیا ساتنې او دفاع لپاره دي ته اړ نه دي، چي په یوه مسلمان گاونډی افغانستان کي بې دیوه لاس پرنامه نظام پرځای یو ټاکلی او ټولمنلی حکومتي سیستم واکمن وي.

ایا دوی گني دخپلي ټولنې او خپل خیر ده، که نه دیوي داسي فضا په راوستو کي دزړه له کومي موثریت ښودل، او هغه درویشت کاله وړاندې ټولنیز سیاسي حالت ته د افغانستان دسیاسي او اقتصادي حالت په راغبرگونه کي مرسته کول، چي په نتیجه کي بې ددوی دا شکایت هم لري شي،

چي زموږ معیشت ، طبیعي زېرمې او مدني وسایل ټول دغو مهاجرو له گواښ سره مخ کړی دی.

ایا دپاکستان دځپلي معیشت او اقتصادي حالت دله منځه وړو ښه چاره گني دا نه ده ، چي یو داسي افغانستان بي په گاوند کي وي، چي نه ورته څه میراثو نه له خاورو سره خاوري کیږي.

دلته اولس ته په تلویزیوني خپرونو کي د ټیکسلا او نورو منقولو او نامنقولو موزیمونو دخوندیتوب ډاډ او هڅو نه وړاندي کیږي.

دلته سینما او جومات دیوال شریکي چلېدای شي، خو هلته دپاسپورت اخیستو لپاره دتابعیت هغه تذکره داعتبار وړ نه وي او ځېرل کېږي، چي دپنځلس کلن تنکي، بې ږیری عکس پري لگېدلی وي.

دلته دقلمي صنعت له دودوونکیو نه دټیکس په اخیستو په شرط حتی اخلاق سوځوونکی فلمي هنر دهنر وده او هنري نظام دمقرراتو له مخي دا حقیقت نه مني، چي هغه نظامونه چي دبل په وروځو چلېږي او دالهام سرچینه یي داولس پرځای نوري بهرنی سرچېنې وي، ټولمنلی او ملت ته محبوب نظام گڼل کېدای شي؟.

ایا دوی دخپل ځپلي او نیمژواندي رنځور اقتصادي حالت ددرملنی لپاره دا غوره نه گني ، چي په گاونډ کي له هره اړخه یو داسي بسیا او پرېښو ولاړ نظام او حکومت ولري، چي دنشتوالي له امله یي نه یوازي شل میلیونه افغانان دلوږی او فقر په تناره کي ورتیږي ، بلکې دیو نیم سل میلیوني هېواد پر اقتصادي اوږو هم (ددوی په ادعا) یو درونند او ملاماتوونکی پېټی دي) .

ایا ددوه ملیونه افغان مهاجرو له پېټی نه دځان خلاصولو لپاره همدا دنیولو، ترلو او شړلو لار دپاکستان په قاچاق شي او نه تري څه قاچاق شي، او پرځای یي خپلمنځي مشروع او پر دوه اړخیزو گټو ولاړه سوداگري روانه وي؟.

ایا دي هېواد او ټولني ته گني داسي یوه فضا په گټه نه ده ، چي هلته دي هم روښاندي، علما او مخور دملي گټو پر وړاندې د اساسي قانون په چوکاټ کي یوه خوله وي، په داسي حال کي دلته دنظریه پاکستان په نامه ټول علماء یوه خوله دي، خو هلته عواملو زموږ علماء حتی ددیني مسایلو په اجتهاد کي هم یو دبل په غاړه ورغورځولی دی، دملي ښېگڼو او گټو پر وړاندي خو څه کوي؟.

دا ټولنه او نظام چا په دي نور د اسلام له دایري نه ونه ایست، او نه چا د شرک په ملاتړو کي راوسته ، چي دکولتوري میراثو نو خوندېینه خپل ملي مسوولیت گني، خو پر همغه ورځ چي دشرک دتعمیم په تور زموږ کولتوري ازادي گټل کېږي ، خو هلته حتی دکمري گرځول حرام او دجزاء وړ عمل گڼل کېږي.

دلته تلویزیونی خپروني دملي عوایدو ستره وسیله او سرچینه ده ، خو هلته دتلویزیون او ویډیویي پټو (کستونو) اعدام یو دویاړ وړ دود دي.

دلته ښځو ته دزده کړي هغومره اساني ورپه برخه دي ،لکه اسلام چي ورکړي، خو هلته په همدي عنوان هم څوک دغه دیني فریضه نه شي ترسره کولای او حتی یو نیم مور و پلار ددي ارمان ترسره کولو لپاره اړ دی، چي خپلو صغیرو لونو ته دهلکانو جامي وراغوندي او دهلکانو «مدرسي» ته یي ولیږي.

دلته چارواکي پر دیني مدرسو دا شک ، خپل ملي حق بولي، چي مدرسي دترهگرۍ ځالي وبولي، خو هلته ددي لپاره چي دطالبي ویاړونو پر کمیت وویاړي، زموږ خپلي نومونې او اصطلاحات (ښوونځی، ښوونکی، زده کوونکی او ...) پر مدرسه ، استاد ، طالب العلم او... بدلوي.

موږ نه وایو چي ددو بېلابېلو ټولنو او اولسونو دکولتورونو ترمنځ دي ارزښتونو توپیر نه وي، وي دي او ضرور دي وي، خو له چارواکیو مو دغومره هیله او گیله ده ، چي له خپل همدي محسن او سیاسي ملاتړ نظام نه دي دومره څه زده کړي، چي نړۍ چرته روانه ده او مونږ پر کوم پړاو یو او ایا زموږ چارواکیو هغه پایلي او عواقب تصور کړی، چي ددغې پر له پسې ښکېلونو او فشارونو په پنجرو کي یې اسیر ملت دغبرگون په توگه ښکاره کوي؟. ځکه دوی لکه چي دا حقیقت تصور کړي قدري هم نه دی چي:

اولسونه چي سندویله وکا
بادشاهان ورته سجود کاندي اختیار

دلته دطبیعي زېرمو په لړ کي دځنگلونو په ساتنه چارواکي ځان دومره مکلف بولي، چي دسرحد یو پخوانی لوړ کچي چارواکي، له افغانستانه لرگیو راوړونکیو سوداگرو ته هغه حق التورید وربښي ، چي په نه وربښلو یې ددوی خپل ځنگلونه ، خدای مه کړه، متأثر نه شي.

دلته چارواکی دساتنې لپاره د نښترو په ځنگلو کي پر نورو تدابیرو سربېره ساتلی زمري هم ورخوشي کړي، چي څوک تري یو ډکي قدري هم مات نه کړي، خو هلته له دي تېرو لسو کلو راهیسي دکونړ د لرگیو پر هره لارۍ تر دري زره پاکستانیو کلدارو حق الامارت دمورد پیو غونډي حلال گټل کیږي او چي په برقي ارو او په سوونو لاریو کي دچا خوا سپړه نه شي، نو بیا یې دداسي اور خوراک کړي، چي پر شپږویشتمه ورځ یي خدای په باراني اطفائیه مړ کړي.

پاتې ۷ مخ

«دشتی»

نوروز روزیست بیشتر دارای جنبه های زراعتی واقتصاد فلاحتی

(بخش دوم)

افلاطون هم تحت تاثیر همین عقاید زردشتی مانند اکثر فلاسفه دیگر یونان تعلیم می داد که روح جاودانیست و ارواح گذشتگان به سرزمین اسرار آمیزی می رسند که روان نیکوکاران روانه بهشت خواهد شد.

لذا دیده می شود که نوروز و تجلیل از آن در ادوار قدیم توسط زردشتیان آن دیار رایج بود و از طرف دیگر آیین زردشت بیشتر بر اخلاقیات اتکاء داشت و این مقوله یعنی (پندار نیک، گفتار نیک و رفتار نیک) از مقولات مشهور مفکوروی آنست و بر عقیده اکثر محققین آئینی بود یکتاپرست.

نکته مهم دیگری که درینجا باید عرض کرد عبارتست از سؤ تفاهمی که شاید در اثر عدم تتبع درست در تواریخ باستان بوجود آمده است و تا جائی پیشرفته که شکل غلط مشهور را بخود گرفته و هم کمتر در آن باره نوشته شده است اینست که نه تنها نوروز یعنی روز نو آریائی ها عیناً مثل روز اول سال بسااز ملل دیگر به مراتب بیش از آنچه ریشه یا جنبهء مذهبی داشته باشد. دارای جنبه های زراعتی و فلاحتی وطبیعی است و از همین رهگذر بیشتر به مسایل نجومی و تقویمی که همانا حساب ازمنه است، قرابت نسبی معنوی ای بهم میرساند به استناد بر اقوال اکثر محققین تقویم های بابلی و یونانی های قدیم بر اساس گردش مهتاب (ماه یاقمر) بود و هر شامگاهی که هلال ماه نو دیده می شد، مثل اکثر ملل دیگر، حساب ماه نو بابلی هم آغاز می شد.

سالهای بسا از ملل قدیم جهان، مثل امروز با اعتدال بهاری شروع می شد که بیشتر جنبهء طبیعی دارد نه سیاسی و یا غیر آن گویند دربابل در اینکه سال (۱۲) ماه باشد یا (۱۳) ماه نظمی در کار نبود ناچار سال گاهی دیر تر و گاهی هم زود تر آغاز می گردید. پس دهقانان و زارعین نمی توانستند به آغاز رسمی سال تکیه کنند و می بایست به مشاهده مستقیم خورشید (آفتاب) شمس و ثوابت بپردازند.

بارتل یکی از محققین می نویسد: مردم روزگاران باستان طلوع وغروب ستارگان را با پیشبینی های مربوط می دانستند، کهن ترین متن شناخته شده یونانی که بعضی از رسوم (دهقانی) در آن یاد شده قصیده (کارها وروزها) اثر هسیودوس -Hesio dos است که ابیات ۳۸۳ - ۳۸۷ آن چنین است:

چون ستارگان پروین (ثریا) دختران اطلس
طلوع می کنند،
خرمن کردن آغازید،
وشخم زدن (قلبه) به هنگام غروب آنان.
چهل شب و چهل روز پنهان هستند
و چون سال گشت ودوباره پیداشدند
داسهارا تیز کنید.

در بابل نیز دهقانان (کشاورزان یا کشتمندان) متوجه آن پدیده های آسمانی بودند که هر سال تکرار می شد تا بتوانند مثلاً از آمدن باران آگاه بشند در متونی که از بابلیان باقیمانده است به فصل های سال اوضاع جوی و زراعت نیز اشاراتی هست و در مصر همچنان.

مصری ها سال رابه سه فصل که هر فصل (٤) ماه داشت تقسیم کرده بودند که ٤ ماه اول را ماه های (طغیان) و ٤ ماه بعد را ماه های (رویندگی یانشوونمای نباتات) ویا بذر و آخرین ٤ ماه را ماه های (گرم) یا (خرمن) می خواندند.

این تقسیمات سال به فصل های (طغیان) و (رویندگی) و (خرمن) حکایت ازان می کند که در ابتدای رواج سال (۳٦٥) روزه مصریان (سال دهقانی) را که با طغیان نیل شروع می شد و (۳) فصل داشت ملاک قرار داده بودند و بر اساس این نظریه سال مصری از ۱۲ یا ۱۳ ماه قمری تشکیل می شد.

اینك برای اختصار و کمتر باعث درد سر شدن نگاه اجمالی ای برسال های نو خود و مراسمی که بیشتر از سالهای دهقانی تاهنوز برای ما باقی مانده است می افگنیم تامعلوم شود که نوروز یا روز اول سال نوما پدیده ایست تاریخی و علمی که از نیاکان آریایی ما باقی مانده و مراسم آن تاجائیکه با ارشادات دین مبین اسلام تناقض ندارد هرگز از جمله موهومات یاخرافات و امثال آن به شمار نمی رود بلکه بر حقایقی استوار است که با رزق و روزی شبانه روزی خاصتاً اقوام و مللی تعلق دارد که پیشه زراعتی و مالداری، داشته و مثل افغانستان امروز یادیروز سیاست اقتصادی آن بر زراعت ومالداری، دهقانی و بذر افشانی متکی بوده و می باشد و چون سال نو که در ماه حمل آغاز می شود بعد از مرور زمستان سرد با اعتدال بهاری شروع می شود می توان این پدیده های طبیعی را با امتزاج منطقی آن با بسا از پدیده های اجتماعی و زراعتی و امثال آن، بیشتر طبیعی اقتصادی (زراعتی) وغیر مذهبی خواند و موسم بهار را هنگام نشو و نمای نباتات منحیث عموم و نباتاتی که بالاخص اسباب دنیائی روزی و قوت ایشانرا تشکیل می داد و ایشانرا از قحط وگرسنگی وفاقه بدر می کرد، خصوصاً اهمیت داد و ارج گذاشت و آنرا با مراسم خاص و بی ضرر آغاز کرد.

آنچه ازین مراسم دهقانی و زراعتی تا ایندم برای ما باقیمانده و همه از آن آگاهی داریم اجمالاً عبارتند از:

مراسم خاص قلبه کشی در فصل بهاران و انتظار باران و ازدیاد آب در شروع بهاران و قلبه کردن زمین های خاره و یانمایش بهترین حیوانات اهلی، یا بازی های ملی از قبیل بزکشی، کشتی گیری، سیربازی، نشان زنی، نیزه زدن ، سواری ،(ضرب میل) تدویر میله های محلی خورد و بزرگ ازقبیل میله، گل سرخ و میله های متعدد دیگر محلی با مراسم خاص و ترانه های مخصوص آن در این فصل رویندگی وبالندگی ویا بالاکردن جنده ها در مزرات باقدم جای های رجال بزرگ مذهبی وروحانی خاصتاً درمندوی های شهرهای بزرگ بامراسم قرآن خوانی ونعت وسایر مراسم دعا و نیاز برای فراخنای رزق و روزی و استدعای برکت وفیوض آسمانی از بارگاه وسیع خداوندی (ج) شروع وختم می شود.

همچنانست وجود سال و ماه دهقانی که در پهلوی سال و ماه دفتری ماموجود و مروج است که پوره ده روز ازان جلوترمی باشد ویا وقت شماری های دیگر ازقبیل چله خورد و چله، کلان یا چله، تر و چله، خشك که همه سوابق بسیار دیرینیه و تاریخی و علمی دارند و بیشتر بامسایل زراعتی و کشت وکار درو و خرمن ارتباط پیدا می کنند.

واما تقویم های قمری و شمسی:

چنانچه قبلاً هم اشاره کردیم چون این تقویم ها بیشتر به اساس اجرام سماوی خاصتاً شمس و قمر و بعضا هم اجرام دیگر ساخته وپرداخته می شدند، تقویم های اکثر ملل و نحل جهان بر اساس غروب وطلوع مهتاب (قمر) بنا نهاده شده بود و درکشور ماهم ازین اصول منحیث تقویم مذهبی اسلامی پیروی می شد. تا آنکه سلطان جلال الدین ملکشاه سلجوقی بر اریکه قدرت نشست و روز تاجپوشی وی با اولین روز حمل (فروردین ماه) هنگام تحویل آفتاب به برج حمل (بهار) مصادف بود در سال (٤٦٧) به عمر خیام نیشاپوری که از منجمین بزرگ بود و تعدادی از منجمان دیگر دستور داد تابه ایجاد تقویم شمسی بپردازند و از همین جاست که تقویم مشهور (جلالی) به میان آمد و در پهلوی تقویم قمری رواج یافت نه آنکه جانشین آنشده باشد چنانچه معلوم است میدء هردو تقو از هجرت پیغمبر اسلام حضرت محمد (ص) ازمکه، معظمه به مدینه، منوره آغاز می یابد که هنوز هم در افغانستان شایر و دایر است.

بیش ازاین باعث درد سرنمی شوم، بادعا وسلام

###########

جرګې او که جګړې

عبداللطیف «منت یار»

هسې خو جرګې زمونږ دافغانانو ملي دود او سپېڅلی عنعنه ده چې له ډېرې زمانې نه رادبخوا ترینه کار اخستل کېږي او دلانجو دحل په لیاره کې زیاته مرسته کوی خوله کوم وخت نه چې په افغانستان کې دجنګ اورونه بل شوی دی دادی نن سبا دغه غمیزه دشلو کالونه هم پسې اوښتې اولا پسې زور اخلي. چې په دې مسابقه کې ډېر بې دفاع افغانان دزیاتو کړاوونو، بدبختیو او ناتارونو سره مخامخ شوې او دسرنه تر مال پورې ئې هرڅه ترینه اخستي او اوبو وړی دی چې په بهرنیو هېوادونو کې دفقر او بدبختیو سره لاس په ګرېوان دي اود کړاوونو نه ډکې شپې تېروي زه نه پوهېږم چې دغه دجرګو نویو مبتکرینو ولې په هغه وخت کې خپل دغه ملي دود او عنعنې «لوئې جرګې» ته څه پاملرنه نه ده کړې چې اوس دشلو کالو دغمیزې دورک کولو له پاره دباندینیو هېوادونو «قبرس» «عشق آباد» او په خاصه توګه په «روم» کې په جرګو جوړولو لاس پورې کوي اود خپل میل او نظر وړ کسان ورته را غواړي، او دغه دکالو کالو ستونزه پرې اواره وي. چې لاتر اوسه پورې بې ثمره او ددغه بدقسمته افغانانو ژوند ئې دعذاب اوکړاو سره مخامخ کړی دی.

دجنګ په دغه اوږده مسابقه کې یوازې او یوازې دافغانانو لاسونه دخپلو ورونو په وینو نه دي ککړ شوي بلکه ډېرو بهرنیو هېوادونو هم پکې دنظر وړ برخه اخستې ده. دملګرو ملتو دی یاد په خیر وي له بیټ سېوان نه نېولې تر مستري او اخضر ابراهیمی پورې هیڅا دافغانانو دموجوده ستونزې دحل په لاره کې ګامونه نه دي اوچت کړي او لایې پسې دجنګ اورونه بل ساتلي دي. که دامریکا په لمسه دملګرو ملتو اوسني بندیزونه چې دافغانستان پر اقتصاد او تجارت یې لګولی د ډز بندی په لاره کې نافذ شوی وای نن ورځ به دافغانستان په وبالو کې داوبو پرځای وینې نه بهېدلې جنګ او جنګي ډلو به هم دخپلو ملګرو په شان له افغانستان څخه پښې ایستلی وای نو څکه دا په زغرده سره وېلي شو چې ددې ټولو بدمرغیو او بدبختیو یوازیني مسئولین ملګري ملتونه دي او دغه بدعواقب یوازې همدوی ته متوجه دی او بس. نن ورځ ملګری ملتونه دنړۍ پرمخ یو ستر قدرت دی که دخېر په کار کې پر کاله کېږي اود شر په چارو کې دراز راز ګواښونو او بندیزونو څخه کار اخلي نو لېرې به نه وي چې دخپل عمل په سزا ورسېږي.

امریکا چې په قومانده کې تر ټولو هېوادونو غښتلي او پیاوړی هېواد دی دملګرو ملتو دامنیت شورائی تر خپل سیوري لاندې راوستي او پر مظلومو افغانانو باندې ئې رڼا ورځ توره شپه ګرځولې ده. توانا خدای «ج» دخپلو بندګانو د حالاتو څارنه کوي.

هوکې: زمونږ خالق ته ظالم او مظلوم ډېر ښه معلوم دي او لېرې به نه وي چې دغه مظلومان [illegible] وانو دحملو او ګواښونو څخه خوندي پاتې شي. دشاعر دشعر دلاندیني فرد په مصداق چې وېلی یې دی:

یو موږ په غونډارو ولی بل راباندې لار ترې
دې بدقسمتۍ کې موڅوک خوله اوڅوک ګفتار ترې

دخندا وړ خبره خو داده چې ددومره ظلم او بندیزونو سره سره بیاهم امریکا لګیاده په واشنګټن کې دلوئې جرګې ددایرولو تابیانېسي! که امریکا پر افغانانو باندې دومره پیرزوېنه او سخاوت مندی لري نو له دوي څخه دې دبندیزونو بارونه لیرې کړي. په بهر کې دجرګو جوړول دجنګ دنابودئ په برخه کې هیڅ ډول رول نه شي لوبولی.

که چېرې دبهرنیو هېوادو پرځای په افغانستان کې دننه جرګې جوړېږي اودخلکو په خوښه پوه مجرب او خبیر خلک پکې برخه اخلي هغه به ټولو وطنوالو ته دمنلو وړ وي او دجنګ دفشار په کمولو کې به ئې زیاته مرسته هم کړې وی.

اوکه چېرې دغه راز غونډې په بهر کې جوړېږي نه یوازې داچې دملت نمایندګان به پکې ونډه وانه خستلی شي بلکه هغه کسان به پکې بریتونه تاوه وي چې ملت به ئې په هویت باندې هم نه وي خبر او په خپلو دوستانو او ملګرو به ئې خپل بلډینګونه تاوده ساتلي وي...

که چېرې دغه راز افغانان په خپلو دربه دره او آواره وورونو «افغانانو» باندې دزړه خوږئ او عاطفې څخه کار اخلي خپلې ټولې ګتې دې ترپښو لاندې کړي اودسولې په لاره کې دې ګړندي ګامونه اوچت کاندې لکه چې وائي:

چې غوټې پسې وهي په لاس به در شي
چاوی داچې په دریاب کې ګوهر نشته

دسولې دراوستلو په لاره کې به ښائي چې یو لږ ستونزې موجودې وي او هغه کسانو ته چې د پلې د تګ څخه داسې سپرلی زیات خوند ورکوي او یا داچې په وچ کاڼي ناسته ئې د نرمۍ چوکي ارزښت نه شي تر لاسه کولای. لږ څه به ستونزمنه خبره وي خو که چېرې ددوي په هلوځلو باندې دجنګ په لمبو اوبه اچول کېږي. اوبیا دغرض نه پرته دزعامت په لټه کې کېږي نو داسې کسانو ته به دمحبوبیت دروازې خلاصې وی اودخلکو په زړونو کې به یې هم یو منلی او سپېڅلی مقام تر لاسه کړی وی.

داځکه چې دښو او بدو توپیر هغه څوک کولای شي چې چا ورته دژوندانه په سختو پېچومو کې امتحان ورکړی او یائې ددوي دبدمرغی دلیرې کولو له پاره منډې وهلي وي.

دوي دخلکو په پېژندنه کې ډېره مطالعه لري او ډېر خلک ئې له خپلو ذره بینی سترګونه تېر شوي دي.

داخلک بینادی خلک پېژني
خوار که نن سبا دي خلک پېژني

نوراځئ چې دجرګو دجوړولو او دایرولو پروسه په خپل ګران ټاټوبي کې «په هېواد کې دننه» په عمل کې پلې کړو ترڅو په واقعي توګه دملت پاک سوچه نمایندګان«استازي» پکې فعاله برخه واخلي او خپل دردونه په خپله مداوا کړي.

داځکه چې افغانستان دافغانانو ګډ کور دی او دا هېواد به په ګډه سره ابادوي او په ګډه سره به خپلو غوښتنو ته ځوابونه وائي.

په زور باندې چاکلې نه دی کړی اونه دزور معاملې چاته ګټه رسولی شي نو راځئ چې دکار په اهل باندې خپله دغه ماته بېړی ساحل ته ورسوو او خپلې خاورې ته دورانئ پرځای دخدمت جوګه شو. ومن الله التوفیق

****

دشعر او ادب گل پاڼې

هېواد والوته

پاکې که لارې دخپل قوم خادمانو لره
دوفا لاس ورکړه دصدق خاوندانو لره
دنوي عصر نېرنګونو بل افسون راوړی
سترگې په برېد پرانیستی ښایی افغانانو لره

غلیم ته

دبستان کې دایښا چې زه استاد وم
تالوستله هغه وخت کې سپاره
مخ دې تورشه اوس ځما دسرد عواکړې
ته اوخداي نو، په همدغې قواره

اروابناد محمد موسی «شفیق»

دعــــا

ځوانه وینه دې چمن ته گلبدن شه
د آرزو غوټې دې هسکه پرگلشن شه
چې دې سرد پسرلو په ارمان داو کړ
خوار وطن دې دخورو، ورمو وطن شه

***

سترشې سترشې دوطن بچیه سترشې
ددې تورو، تورو شپو په زړه کې لمرشې
دجاهل دوران په تورو، تورومو کې
دنورځلی، روښان شې منورشې

عصمت قانع - چمن ۱۳۶۲/۲/۲۵

وطنه

سید عبدالله «سعیدي»

په پسرلي کې چې وطنه خزان راغي
هربو گل ددې چمن ته ارمان راغي
باغ اوین کې چې گلونه لوخ لغړ شول
دکوم لوري پرې مرگونی طوفان راغی
گلان ورک شول له اغزیو گلزار ډک شو
بلبلان په چغو سرشول سوران راغي
دمالېار له سترگو اوښکه ده توئېږي
که شبنم له گلو پرېوت باران راغی
چې دکال خواري یې تولـه تباه شوی
ژړغوني کروندې نه دهقان راغی
اه داځومره بي کسي اوبي وسي شوه
دنوکرو چې بادار ته فرمان راغی
له ازله بدقسمت زه «سعیدي» یم
چې په سرمې دغمونو کاروان راغی

يك شهر اسكليت

استاد عبدالقيوم بيسد

بكشاده ايم ديده و كشتار ديده ايم
خاكستر حديقه و گلزار ديده ايم
بيخ وبن جوانه نهالان كشيده اند
ازپافتاده سروسپيدار ديده ايم
يك شهر اسكليت همه بي هدف روان
ويرانه ملك به در وديوار ديده ايم
ديوانه گان قدرت وبيگانه گان درد
دركار نفع ونقص خودهشيار ديده ايم
ازبيم بيم خفته به قبريم بي نفس
مرگ قنار وفاخته وسار ديده ايم
بردوش خلق بارسه بار بار شد
سر بارها به كرسي دربار ديده ايم
با اين زبان سرخ ترابيسد زمين
درعرصهء زمان به سر دار ديده ايم

خلک ولې له کابله راځي؟

م غمشریک

دابشکلی ښکلی خلک ولې له کابله راځی
داځه فشار څه مجبوری ده که پخپله راځي
رنځور دمېنې په راتلو چې د آشنار غېږم
چې ساه مې ووته خبر ئې کړې بیا ځله راځي
ورشه ریباره ورته وایه آخری سلگی دي
درنځ درمانه چې اوس رانه شي بیا به کله راځي
په کوم یو بدبوتی مې ایښی پښه نه پوهېږم
خوشحالي نه شته خو غمونه یو په سله راځي
دجنگ اورونه لور په لور زما وطن کې بل دی
څوک له مزار، څوک له بغلان، څوک له زابله راځي
څوک په رضا له خپله خوږ وطن نه نه ځي آشنا
ده مجبوري چې څوک په بوه او څوک په بله راځي
دمېنې غېږه ورته خلاصه کړی دننگ په دستور
ځنې لمده باران وهلې ده بلبله راځي

اراده او لوستونکي یې

د یر محترم ورور حاجي صاحب سید داود
زما دمینې ډک سلامونه او ښې هیلې ومنه خدای دې وکړي چې روغ او جوړ اوسي.

محترم حاجي صاحب! زه پدې نژدې ورځو کې خبر شوم چې تاسې دارادې په نوم یوه جریده نشر ته سپارلې ډیر خوشحاله شوم. تاسو ته دژوندانه په ټولو چارو او دجریدې په نشر کې دلوی خدای څخه دلازیات بریالیتوب هیله کوم او دادي ددې لیک په ملتیا مې تاسې ته خپل یو څو قطعې شعرونه درواستول که دنشر وړ وو البته نشر به یې کړي.

په درنښت
سید عبدالله «سعیدي»

قدرمن ورور سید عبدالله سعیدي صاحب

هیله ده زمونږ له مینې ډک سلامونه هم ومنی. داچې دارادې په خپرونو موخوشالي ښودلی تل مو خوښ غواړو. اراده ستاسې او دنورو هیوادوالو دخدمت په اراده خپرونې کوي ستاسې او نورو لوستونکو قلمي مرستو ته سترگې په لار یو او په مینه یې منو ستاسې یو شعر مو دادی په دې گڼه کې خپور کړ دنورو په هکله به هم تصمیم نیسو.
ستاسې دپېرزوینو او مرستو په هیله. «اراده»

برادر بزرگوارم جناب سید داود،

در حفظ خداوند و کامیاب دارین باشید! اینک که سعادت حصول جراید وزین اراده میسر شد باید بشما و همه همکاران محترم تان از ته دل تبریک گفت زیرا این مبرهن است که دراین دنیای پر از آشوب ما بیان حقیقت و تعقیب راه خواسته ملت، خود جهد عظیم ووالائیست.
بشما معلوم است که شما در بیان و گفتار این حقایق تنها نیستید همه برادران شما که در دور و نزدیک شما موقعیت دارند وخود را فرزند ملت افغان میدانند ازین آتش نهان و پنهان میسوزند و آه از دل خونچکان شان میکشند،
تاثر و تألم دراین است که این شاید (صدها) باشد و احساس دور از هم دیگر هیچ رخنه در دل این سنگ دلان نمیکند ولي چنانکه گفته اند (نا امیدي مرحله آغاز بدبختي انسان است) خداوند ما وشما را از بدبختي نجات دهد.
بشما و یاران شما باید افتخار نمود که توانسته اید عمل بي تمني خدمت ومقاومت را در چنان حالتي بلند داشته اید که درک آن بما معلوم است. گفتن حقایق هم درک و هم قلم توانا میخواهد که هر دو را در نشرات شما ملاحظه نمودیم.
شما باید اطمینان داشته باشید که دراین سنگر دفاع از حق ملت وتلاش براي سپردن این حق، ما با شما هستیم و بشما وعده میدهیم که در هر قدم این راه میتوانید برین برادران تان حساب نمائید.
براي اینکه رابطه را حفظ نموده باشیم ما را شریک این جریده وزین خود دانسته و در صوت لزوم، کمکهاي ما در خدمت شما خواهد بود. احترامات قلبي وچک وجه اشتراک را قبول فرمائید.
با عرض حرمت بشما و همه برادران

همکار شما
عبدالحکیم رشید

دانشمند بزرگوار جناب رشید صاحب

احترامات متقابله مارا هم بپذیرید.
از لطف تان ممنون. اطمینان بودن و ماندن از سوي شما در کنار ما مایه دلگرمي و ایستادگي هر چه بیشتر مان خواهد بود.
دست حق همراي تان.
«اراده»

دغه راز زمونږ یو شمیر گرانو ورونو لوستونکو لطف کړي مونږ ته ئې لیکونه رالیږلي، دخپلو قلمي همکارو یو ژمنه ئې کړې او یو شمیر نورو بیا دمینې له مخې مونږ ته دنشر له پاره لیکونه، انتقادونه، پیشنهادونه، شعرونه او مضمونونه رالیږلی لکه گران منصور صاحب د «گفت وشنود ماما افغان در طول راه با ملل متحد» دل افروز زیرک (ولاړم ننگرهار ته)، نقیب الله حامد «دارادې محترمې اداري ته» احمد مصطفي «حارس» «گټور معلومات»، حسینه خُلقي متعلم صنف یازدهم لیسه عالي نازوانا، «اندیشه و مسوولیت جوانان در اعمار جامعه افغانستان»، محترمه شاه بي بي حلیمي استاد لیسه نازوانا «صلح و همبستگي»، سید نور الله ځل دمیرویس هوتک لیسې مدیر صاحب، «په هیواد کې لرغوني آثار او دکابل موزیم، افغانستان او ملگری ملتونه»، غلام حیدر خان دکامې له ولسوالی نه «تعلیم او افغانان» تمیم «دوستی افغانستان».
او مریم سروش له کابل نه مونږ ته په زړه پوري مطالب رالیږلي دی.
همدارنگه درنو شاعرانو: محمد هاشم غمشریک صاحب، سید عبیدا لله نادر، مرضیه شاگرد صنف هشتم الف، نظیر احمد همدرد مونږ ته ډیر خوږه شعرونه رالیږلي چې مونږ ددې درنو لوستونکو مضمونونه او شعرونه د تدقیق بوږد غړیو ته وړاندې کړیدي دهغوی ترغور وروسته به یې په ترتیب سره دخپرونو اقدام وکړو.
«اراده» له دوی او خپلو نورو قدرمنو لوستونکو او هیوادوالو څخه په مننې سره غواړي چې خپلې قلمي پیرزوینې له مونږ څخه و نه سپموي.
والسلام «اراده».

صدف هاي تهي

ساجده ميلاد

وقتي تو
ازصدف هاي تهي مي گوئي
يا از آن،
ماهي مرده كنار ساحل
يا از آن شاخ كبود
نفسم مي گيرد

xxx

چي كنيم
همه اي پنجره ها جانب شب بازند
همه اي باورها جانب تاريكي

xxx

جاده هاي كه از آن مي ايم
كوچك وتنگ وتهيست
... واما تابه دروازهء دوست
تاچه حد فاصله است

xxx

وقتي مي خواهي كه نرگس بخري
ياكه يك ميخك سرخ
همه گي مسخره ات مي سازند

xxx

وقتي مي خواهي كه:
ازكوچه ايمان بروي
سنگ بر آينه ات مي كوبند

غرونه چا سوري کړل! او شیرینه به څوک وړي!

فدا محمد «فایض»

دشاعر دا خبره چې:

هر که نامخت از گذشت روزگار
هیچ ناموزد زهیچ آموزگار

ډېره پخه او پر ځای ده ، رښتیا هم چې تاریخ ډېر ستر معلم او ښوونکي دي، اصلاً تاریخ، دهمدې لپاره دي چې سړی دماضي په هنداره کې خپل مستقبل وکتلای شي او داسې لار خپله کړي چې دتجربو دبېړۍ په واسطه دحوادثو له سمندره سهي و سلامت دنجات ساحل ته ورسېدلای شي.

چاچې له تاریخه درس وانه خست، خامخا به دتاریخ څپېړه پر مخ خوري، عاجل ، بې ځایه او بې وخته قضاوتونه او تصمیمونه دوخت واکمنانو ته قبر ویستلای خو شي، خو له هلاکته یې نشي ژغورلای.

زموږ دجهاد مشرانو دمبارزې او جهاد په دوران کې ډېرې سترې کارنامې ترسره کړې، زموږ جهادي قوماندانان او مجاهدین دډېر شاباشي او آفریني مستحق دي او په حقیقت کې یې ټول هغه اولسونه او هېوادونه چې دکمونېزم او سرې امپراتورۍ خطرونو ګواښل مرهون منت ګڼه شي، خو دجهاد تر بریا وروسته یې چې څومره لنډ تنګ قضاوتونه وکړل او څومره لنډې منډې یې واخیستې نتیجه یې اوس هغه شوه چې دوی یې هم ګوري او ټوله دنیا یې هم.

کاشکې دوی دنیا په غړېدلو سترګو کتلې وای او ړانده او بېړني قضاوتونه او تحلیلونه یې نه وړ کړي او په هر څه کې ورته خپله خبره میره نه وای ښکاره شوي نو نن به له دغسې برخلیک سره نه دوی مخ وای او نه هم افغان اولس.

اوس په خواشیني سره چې دهغوی اخلافو هم هغه لار ونیوله او په مخ کې موجود کنډو کپر ته یې و نه کتل، ددوی په مخ کې سرک ټول کچه (خام) دی خو دوی پکې ځغل دپاخه سرک کوي چې دا کار به ددوی دکال عمر میاشت دوو ته راکموي. واک او اختیار داسې شی دي چې له سړی نه دعقل سترګې واخلي او هر څه داحساساتو په نظر ګوري.

زماخبره داده چې که مجاهد او طالب دواړه پخپلو کې سره ناست وای او هم یې د اولس ګټې په پام کې نیولې وای اوهم خپل پایښت ، ښایي ټولې هغه برنامې چې ددې دواړو دورکولو لپاره جوړې شوې دي لومړي جوړې شوې نه واي او که جوړې شوې وای بې نتیجې به وای. که پرون مجاهد په هغه حالت کې خپل دوام تضمین نکړای شو نن به یې طالب ددې دومره نړیوالې غوسې په وړاندې څنګه تضمین کړای شي.

که طالبانو له خپلې بقا سره مینه درلودای، پکار داو چې داسې پروګرامونه یې سنجولې وای چې دملت خواخوږي یې راجلب کړې وای او کوم حکومت یاواکمن چې داولس په زړه کې ځای پیدا کړي، هغه بیا هېڅوک هم له ډګره نشي ایستلای.

دانن چې دلته جرګه او هلته جرګه او ترشایې دنړیوال او سیمه ییز استعمار لاس طبیعي دي چې داخبرې بې اغېزې هم نشي پاتې کېدلای او ښایي چې هېواد په هغه لوري بیایي چې اسلام به پکې یو پوښ وي او تر لاندې به هغه څه وي چې نړیوال استکبار یې غواړي.

په دې توګه به ګورو چې دکوم ستر او مقدس هدف لپاره قرباني ورکړل شوې، هغه به زموږ دواکمنانو دبې تجربه ګۍ او احساساتي تصمیمونو او انحصار خوښونې په نتیجه کې هدر لاړې شي ، ځکه زموږ اسلامي ځواکونو داسلام سم تمثیل ونه کړای شو او زیاتره یې خپلو شخصي نظریاتو ته داسلام نوم ورکړ چې دغه حالت به خامخا په افغانستان کې بیا لویدیځ فرهنګ او تمدن ته لار اواروي ، بیا به میني ژوب او ماکسي اغوستل دښځو حقوق ګڼل کېږي ، بیا به فقط نکټایي دانسان دشرافت او مدنیت دسمبول په توګه پېژندل کېږي ، بیا به خلک په ږېره توهینېږي او دا به یې دنه مدنیت نخښه ګڼل کېږي نن ولې لویدیځ دکمونېزم تر ماتې وروسته اسلام خپل تر ټولو ستر دښمن ګڼي دا ځکه چې اسلام منطق لري ، داسلام دهر حکم تر شا دهغه خپل ځانګړی منطق موجود دي. هغه منطق چې ټولو غیر اسلامي ایدیالوژیو او ټولو غیر اسلامي حکومتي او دولتي نظامونو په مقابل کې ماته خوړلې ده . نو دا دلویدیځ تر ټولو لویه هیله ده چې داسلام ناسم تمثیل وشي چې دهغوی تبرونه لاسته پیدا کړي او دتبلیغ لپاره یې لاره اواره شي ، که چېرې د افغانستان اسلامي ډلې اوس هم لږ سر په ګرېوان کې کړي ، لا هم وخت شته او کنه نو تردې هم دېوې ترخې ګاندي لارې ځاري.

ووایم که نه وایم

مشکل اثار عتیقهء افغانستان و راه حل کوتاه مدت آن

(غازی)

اهمیت آثار عتیقهء نه تنها یك کشور، بلکه همه جهان ازنگاه تاریخ تمدن نوع بشر ازجملهء واضحات و نگهداری آن از جملهء حتمیات است.

ازبین بردن این آثار به منزلهء آنست که فصلی از تاریخ عمومی تمدن بشری پاره و دور افگنده شود و برعکس کشورما که درمسیر تاریخ پرحوادث خود محل تقاطع و تصادم بسان تمدن های باستانی شدن و غرب بوده است، خود نیز گهوارهء چند ازین تمدن ها بود. موزیم های ما اعم از موزیم کابل و ولایات ما که از جملهء خزاین مشهور و معمور چنین آثار به شمار می رود، منحیث یکی از منابع عمدهء تحقیق وپژوهش و یکی از ریفرنس های زبدهء تاریخ تمدن بشری محسوب می گردد.

این گنجینه غنی بعد از تجاوز روسیهء سوسیالستی بر افغانستان تا ایندم به کرات مانند سایر دارائی های ملی این سرزمین مورد چور و چپاول قرار گرفت و هیچ یك از حکام وجنگ سالاران در تاراج ودستبرد به آن دریغ نکرد.

تخریب مجسمه های بزرگ بامیان و شاید هم مجسمه های دیگر هنگامه ایرا در دنیای متمدن برپاکرد ونتایج سوء آن معلوم شد این مفکوره را بار آورد تا از تخریب و یاهم ضایع شدن ان تاجائیکه میسر است ، کاری و چاره ای صورت گیرد.

به همین اساس موسسه جهانی یونسکو که وظیفه سنگین چنین آثار منقول و غیر منقول را بردوش دارد، چند باری مثل برخی از کشورهای دیگر پیشنهاد کرد تابه نحوی از انحاد در نگهداری آن باید کوشید حتی برخی ممالك یاموزیم های بزرگ جهان پیشنهاد خریداری آنرا هم نمودند.

لذا خواستیم پیشنهادی راکه قبلاً هم در روزنامه های دیگر وهمچنان نشریه اراده تقدیم کرده بودیم مجملاً بعرض رسانیم.

فروش این آثار بساجهات از برای تحریك اسلامی طالبان ونه هم افغانهایی دیگر حتی از لحاظ پرنسیب های ملی و جهانی کار درستی تلقی نه می شود و علناً صورت گیرد و چه در خفا.

لذا یگانه راه درست و همچنان معقول و عملی در چنین شرایط جنگی ایکه امروز در آن قرار داده [illegible] ایم این اثار باید بعد از موجودی دقیق و کتلاك کردن آنهم توسط تعدادی ا[illegible] ستان شناسان افغانی که د[illegible] مورد معلومات سرشار و ارزشمندی دارند و هم احیاناً به کمك تعدادی از متخصصین خارجی بدون در نظرداشت هرگونه نظرداشت سیاسی به یکی از ممالك معتبر ویایکی از موزیم های بزرگ جهان طی پروتوکول و قرار داد رسمی به امانت و عاریت سپرده شود تا بعداً آنرا در وقت مناسبی طبق همان اسنادی که امضاء شده اند، به مسولین افغانستان بسپارند.

ناگفته نماند که هم یونسکو و هم موسسه سپك که اخیراً متأسفانه احتجاج کنان دفتر خودرا درکابل بسته کرد و در پشاور و اسلام آباد دفتری دارد، می توانند در این مورد مقدار زیادی کمك های اخلاقی، مالی و مسلکی کنند. همچنان می توان به سهولت تام از کشورهای فرانسه، ایطالیا و یونان که هم در سپك عضویت دارند و هم از جملهء ممالکی هستند که از سالهای قبل وحتی از آغاز شروع حفریات این اثار تاریخی به افغانستان کمك های زیادی کرده اند، کمك های مسلکی وریفرنسی مستندی بدست اورد.

کار دیگری که متخصصین نامبرده افغانی و احتمالاً خارجی همین فهرست و کتلاك سیستماتیك این آثار می توانند انجام دهندعبارت است از ترتیب فهرست مقایسوی مبنی دیگری که حاوی و حاکی آن آثاری باشد که تا ایندم در موزیم های حاکم بر کشور وبالطایف الحیبل مورد دستبرد این و آن (خاصتا در دوران حاکمیت کامونستان) قرار گرفته است و یا آنکه در اثر حمل و نقل وبیجا سازی های این آثار و به اینجا و آنجا شکسته یاتلف گردیده اند نیز باشد.

البته معلوم است که این فهرست وکتلاك حاوی جمیع آثاری خواهد بود که در الماری های موزیم کابل به معرفی تماشای مراجعین قرار داده شده بودند و هم آثار زیادی که در گدام های موزیم بسته بندی و ذخیره شده بودند وباستان شناسان مجرب افغانی ما آنرا به خوبی بیاد دارند و شاید اسنادی هم از آن در دسترس ایشان باشد.

قابل تذکر است که موسسات خارجی هم عکس ها و کتلاك های منظم ورسالات و کتب در این مورد دارند که می شود استفاده اعظمی ای از آن کرده شود به هر تقدیر ترتیب این فهرست مقایسوی در ذات خود اهمیت بسزائی دارد که از آن جمله می توان رد یابی آثاری راکه قبلاً فروخته و قاچاق شده اند، سهولت بخشد تا بعداً توسط یونسکو خریداری و به نام موزیم کابل یا افغانستان حفظ گردند.

لذا چون حفظ این آثار تاریخی از یك طرف ارزش معنوی فوق تصور دارد و ازطرف دیگر مانتوانستیم ونمی توانیم و بازهم نخواهیم توانست آنرا چنانچه شاید حفظ کنیم لذا بر برادران تحریك اسلامی طالبان و برادران اتحاد شمال است تا در این مورد توجه خاصی مبذول دارند وبیش ازین تخریب و فروش ویا قاچاق آنرا که منحیث ارشیف باقی مانده است جمع کنند. چه حفظ این اثار ازجمله وظایف وهمچنان مسؤلیت های ملی ایشانرا تشکیل می دهد.

البته واضح است برادرانی که بیشتر ازین آثار را در تصرف خود دارند، مسولیت ایشان هم به همان تناسب بیشتر خواهد بود.

امیدواریم برادران حاکم ما در داخل کشور توجه خاصی به این امر ملی و میهنی رابیشتر ازین به حال این اثار دریغ ندارند و این دکان وتجارت غیر مجاز را برای دایم ببندند و از طرف دیگر حفریات غیر مجاز را وقاچاق این اثار راکه متأسفانه بازار گرمی پیدا کرده است داخل اصول، لایحه یافرمان تقنینی ای در آورند تا مرتکبین طبق آن مجازات شوند.

World Dairy Product We use only cow's milk

فقط از شیر گاو استفاده میکنیم

milk, Yoghort — شیر، ماست
cheese, Butter — پنیر، مسکه
Cream, Curd — قیماق، چکه
Dogh (Lassy), Solidcurd — دوغ و قروت

Address"
Shop No.2A, Seesan Plaza, F-10 Markaz, & Shop No.6 AL Rahman Plaza G-9 Markaz, Islamabad.

نوت: نشریه اراده را از آدرس هاي فوق در اسلام آباد به دست اورده میتوانید.

اعزام ده هزار طالب به افغانستان

طالبان و تنظیم هاي طرفدار و حامي آنها در پاکستان قصد اعزام ده هزار فارغ التحصیل مدارس دیني را به افغانستان دارند. بگزارش رادیو تهران اکثر این طلبا ازمدرسه حقانیه اکوره ختك برهبري مولانا سمیع الحق رهبر جمعیت علماي پاکستان به افغانستان فرستاده مي شوند که مطابق به توان و استعداد شان در وزارت خانه ها وجزوتامهای نظامي طالبان توظیف خواهند شد.

****

در جلوزو چی میگذرد؟ فریاد مهاجرین افغان

درگیر جنگ ما را نمی گذاشتند که به زندگی بخور و نمیری که داشتیم ادامه دهیم ما رابه زور به جنگ سوق می دادند.

خانه ها، اموال وغله ودانه ما را چور کردند، پیش چه کسی یخن پاره کرده گریه کنیم و فریاد مانرا جهت دادرسی به گوشش برسانیم ، نمیدانم. ازسازمان ملل و مراجع مدافع حقوق بشر تقاضا داریم که بیایند از نزدیك وضعیت ما را تماشا کنند، بنگرند که اینجا انسانها در چه وضعیتی زندگی دارند ، اینجا محشری برپااست کودکان ما هر روز پیش چشمان گریان ما تلف می شوند، همین شب گذشته سیلاب کودکان معصوم و گرسنه ما را با خود برد، شاید کسی نداند که در آن تاریکی و ظلمت زیر ریزش باران و توده های خاك و جاری شدن ناگهانی سیلاب چقدر و چگونه تلاش می کردیم تا کودکان وسیاسر های ما را نجات دهیم باور کنید به هر دروازه یی که رو آوردیم کسی کمك ما نکرد...»

****

اروپائیان مو په افغانستان کې د پاکستان په لاسوهنو...

دوی به د پاکستان پر حکومت زور اچوي.

ده وویل: ما له نړیوالو ټولنو څخه په کلکه غوښتنه وکړه چې تردې وروسته دې هېڅ بشري مرسته د افغانانو له پاره د پاکستان له لارې نه ترسره کېږي، تر څو په دې ډول پاکستان د طالبانو له ملاتړ او د افغانستان په کورنیو چارو کې له مداخلې نه لاس واخلي.

احمد شاه مسعود د فرانسې د پارلمان د مشر، دبهرنیو چارو له وزیر او د اروپائي ټولنې له مشر او یو شمېر نورو مسوولینو سره لیدنې کتنې کړېدی. دی د روان کال د اپریل په لومړیو کې ، د اروپائي ټولنې په بلنه فرانسې ته تللی او د اپریل په لسمه نیټه بېرته راستون شو.

مذاکرات سود مندي...

تفصيلي صورت پذيرفته است.

شيخ حامد وزير خارجه قطر ميگويد طرفين ديدگاههاي خويشرا ابراز داشته و مذاكرات سود مند بوده است.

ناظران سياسي ابراز نظر مي كنند كه مذاكرات اخير طالبان با امريكا نشان ميدهد كه طالبان حاضر به مذاكره با جهان شده اند وعده از سياستمداران امريكائي عقيده دارند كه بحران افغانستان بدون مذاكره باطالبان حل شده نميتواند.

د طالبانو په ځنډولو سره به د افغانستان حالات...

نې له پوځي او سیاسي ستونزو سره مخامخ شي نو ځکه موږ غواړو چې د خپلو ملي او امنیتي چارو له پاره له طالبانو سره ښې اړیکې ولرو.

ده په خپلو خبرو کې په دې ټینګار کړی چې پاکستان یو اسلامي ملک دی دا خبرې چې ږیرې پرېږدی او نیکر مه اغوندی ، پتنگ بازي مه کوی پاکستان ته دې د دغو زړو فکرونو راوستلو مخه ونیول شي.

ده د طالبانو د وسلو په باب وویل: طالبانو له خپلو مخالفینو څخه ډېرې وسلې نیولی هغوی د وسلو ورکولو ته اړتیا نه لري. هغوی دومره وسلې لري چې کولی شي پاکستان ته یې هم ورکړي. د افغانستان د بحران د حل له پاره دوه لارې شته یوه دا چې پر طالبانو دې دموجوده تحریمونو ترڅنګ، فشار واچول شي خو دا لاره زموږ په نظر ښه نه ده. بله دا چې طالبان دې په رسمیت وپېژندل شي که چېرې یوا ځې په دې ټینګار وشي چې طالبان دې حذف شي دا به د افغانستان حالات د ۱۹۸۹ م کال په څېر د خپل منځي جګړو په لور بدل کړي.

ده زیاته کړه: د بامیانو د تاریخي مجسمو د ړنګولو په کار کې د طالبانو ځبل خواښېنونکي دي.

افغانان دلته سیاسي مهاجر دی نه...

دا خو موټې له خرواره و، که موږ ته چا د څه وبناحق راکولای او گیلې مو د ستانه گنل کېدای ، نو ویلی به مو و ، چې:

لکه دوني هومره پاني
دومره گیلې مې یاره تا نه شوی دینه

که څوک وواییې چې موږ باید دا گیلې په کور کې له خپلو برخلیکوالو وکړو ، د بل چا غوږ ونه پرې ځله خورو؟

هغوی هم ښه وایي، خو موږ وایو، چې زموږ خو گیله همدا ده ، چې زموږ پر چارواکیو د غه مؤثر قوت دي زموږ مظلومیت ومني، خپلې دوه وېشت کلنی کړېنې ته دې وگوري، د خپل هېواد او اولس خبر دې په پام کې ونیسي او هغه د انساني خواخوږۍ او اسلامي ورور ولۍ شعار دې پر زړه کړي او زموږ هغه چارواکي دي، چې گردې نړۍ یې له ملاتړه لاس اخیستي او خپل برات یې ترې اعلان کړي، خو د دوی خپله خبره « د دوی مفادات همدا ایجابوي ،چې ملاتړ یې وشي » .

لږ له افغان اولس سره گوزارې ته راوبولي، لږ دې یې له ملت سره د پوهاوی پر ارزښت پوه کړي، د دې دوه میلیونه زړو مهاجرو د تگ او د نورو نوو د راتگ یوه معقوله چاره دې زموږ د چارواکیو په مرسته وسنجوي. په افغانستان کې دې دسو کاله سیاسي شرایطو په رامنځته کولو کې له ښه نیت نه کار و اخلي، چې هم خپل د غه عنوان کړی اقتصادي پېټې یې سپک شي او هم یې نړیوالو ته د افغانستان په چارو کې د لاسوهنو د تورونو سپینولو ته یو بسنده او قانع کوونکی ځواب درلودلی وي او هم یې پخپله خوښه، پت او درناوی د افغانانو او افغاني مهاجرو دستنولو په نتیجه کې هغه درویشت کلن گاللی کړاوونه ، قربانی او مېلمه پالنې ځای ونیسي.

له افغان مهاجرو سره په دې وروستیو کې د دغسې سپکوونکي دریغ (ترټې ، شړنې او سپکونې) په درلودو او د افغانانو د ځورونې په نتیجه کې ښایي د هغو عواملو د راغبرگېدنې اندېښنه زور واخلي ، او د پاکستان پر ځای (خدای مه کړه) ، کوم داسې لوري ته مخه کړي ، چې د دروېشت کاله وړاندېنیو شرایطو په څېر بیا د پاکستان سیاسي او دفاعي بې اطمیناني راغبرگه کړي او په اصطلاح هغه د شلو دوه ویشتو کلو وړاندې ځوړنده توره، یو ځل بیا د پاکستان پر سر توربرېښ وکړي، ځکه خو موږ اندېښمن یو او وایو، چې له مهاجرو سره د دغسې چلن په رامنځته کولو کې پر احساساتي تگلار سازو سربېره د پاکستان د ښمنو عناصر مؤثریت هم لاس ولري.

زموږ دې دوه نیم لسیز هجری بهیر له خپل مسلمان گاونډي اولس او ټولنې سره زموږ د ډېرو خپلمنځي کولتوري ارزښتونو د گډولو او اغېزلو خواږه یو بل ته ورویښل، یو پر بل باور پوخ شو، خپښې او تړونونه وشول او یو بل ته د بریاوو ور په لاسولو جوگه شو.

له همدغو خپلمنځي خوږلیتونه په استفاده پاکستاني چارواکي او ټولنیز محور مخه او چانس لري ، چې پخپلو « انساني خواخوږیو » او « اسلامي ورورولی » د غه پاللې او لس او د دوی د غه گټیلی زړونه په نه څه اولږه گټه له لاسه ورنه کړي او لږ تر لږه په دې ځانونه بسیا او قانع کړی، چې:

د غه دسترې سرېخورې سرې بېرې مخې ته ولاړ دری میلیوني جهادي ځواک دلته د اقتصادي انگېزو له مخې راکډه شوی نه و ، بلکې دا یوې سیاسي او ملي ژمنې او مسوولیت د کور کوډلې او خپل ټاټوبي په پرېښودو اړ ایستی و.

زموږ موخه او غایه دا نه ده چې تاسې ته له موږ سره د گډې گوزارې لپاره نسخې ولیکو ، خو همدومره عرض کوو، چې که زموږ هغه چارواکي، چې تاسې یې ملاتړ قومي مفادات گڼئ، پر « میم زرما ټول زما » باندې ټینگ نه وای او د ملي مشاورت او ملي پوهاوي اصل یې دستونزو او مسایلو او اروونکی گڼلای، نو موږ به پردوی باندې د فشار اچولو لپاره تاسې ته ولې ځولۍ غوړولای.

زموږ یوازینی هیله او ارمان دیوه ځپلی او ربړېدلی اولس او په یوویشتمه علمي پېړۍ کې د ژوند د حق لرونکو په توگه داده ، چې:

په ملي مسایلو او ملي سوله او سوکالۍ کې مؤثرې خواوې مو خبرې ته خبره وواییې او بس.

****

***

د سرمقالې پاتې

مخکې تر مخکې د یوه شخص انتخاب چې دې پریکړې ته هم د افغانانو په ډېرو مجلسونو او جرگو کې ښه راغلاست ویل شویدي.

مگر د قبرس د سولې حرکت متأسفانه د همایون جریر لخوا د پردیو په نوښت مطرح شوی چې نوموړې د افغانستان په کورنیو جگړو په تېره بیا د کابل په ورانولو کې د دویم یا د ریم شخص په نامه یادېږي، نو د دوی اعتبار یوازې د هغو شریفو افغانانو په راټولولو کې چې د جهاد او وطندوستئ سابقه یې درلوده که چیرې د قبرس حرکت د لویې جرگې او بیا د افغانستان د مشرانو په تېره بیا د هغه مشر په شاوخوا چې لاسونه یې د افغانانو په وینو رنگ نه دي او د هیڅ باندنی هېواد سره یې پر افغانستان معامله نده کړې او د افغانستان ملي گټو په خاطر سره یو ځای نشي نو پایله به یې منفي وي.

د ریمه اختلافي موضوع د روم او قبرس ترمنځ د ملت د استازو ټاکل دي چې د قبرس حرکت یې د سیاسي ډلو ټپلو په بسنې غواړي مگر د روم حرکت د ملت د استازو نه دعوت د ټولو اقوامو په کچه غواړي یعنې د روم دعوت موخه ملي کچه ده او د قبرس د حرکت بلنه په تنظیمي او سیاسي بنیادونو ولاړه ده.

د یادونې وړ ده لویه جرگه د افغانستان په ویاړلې تاریخ کې ځلانده باب لري او د دې بسنې اېښودونکي پخوانی پاچا محمد ظاهر شاه هم نه دي . له پخوانیو آریا یانو نه نیولې د میرویس نیکه د اتلسمې میلادي پېړۍ له پیل نه را په دیخوا د افغانانو ترمینځ د ستونزو د حل یوه معقوله لاره ده نوموړې پدې هیله یو چې زموږ هېوادوال دې باید دا لویه جرگه یوه شخص ته منسوبه نه کړي ځکه چې د ټولو گډ ویاړ دي.

د دې ترڅنگ د یو شمېر افغانانو هیله د روم د حرکت نه هم داده چې پخوانی پاچا محمد ظاهر شاه باید د کورنۍ د انحصار نه راووځي او په عملي توگه د افغانستان د ټولو قومونو په استازو دې اتکا ، وکړي ترڅو رار روانه لانجه د ټولو افغانانو په مرسته د حل لاره پیدا کړي که چېرې د روم حرکت د یوې کورنۍ د غړو په اختیار کې وي د قبرس د سولې حرکت هم د پردیو په نوښت ولاړ وي او پر افغانستان کې دې د پردیو په لمسه کورنۍ د ورور وژنې جگړه همدا ډول روانه وي نو خدای مه کړه چې دا وړی به شړی نه شي.

****

دننگرهار د والیبال د ۲٤ تیمونو په لوبو کې:

د موی مبارک تیم لومړی او د معروف کلا تیم دوهم مقام وگاټه

جلال آباد: د سره رود د معروف کلا د والیبال د تورنمنت په دري ورځنیو لوبو کې د موی مبارک تیم لومړی او د معروف کلا تیم دوهم مقامونه وگټل.

د اراد ې خبریال د محمد امین حقیار له خولې لیکي چې: په دې دري ورځنی تورنمنت کې چې د حوت د میاشتې له ۲٦ نه تر ۲۹ پورې جوړ شوي ؤ، دننگرهار د والیبال ۲٤ تیمونو گډون کړی ؤ.

د لوبو د گټونکو د سوغاتونو د وېشلو په مراسمو کې د سره رود ولسوال ښاغلي مولوي نورالهادي ، د سره رود د علماو د شورا رئیس مولوي عزیز الرحمن گډون کړی ؤ. گټونکو ته یې د سوغاتونو تر ورکولو د مخه هر اړخیزې ویناوې وکړې.

****

د تسلیت او ډاډ گیرنې عرض

په ډېرې خواشینۍ سره یادونه کوو چې زموږ یو شمېر درانه هیوادوال په دې وروستیو وختونو کې وفات شوېدی.

په دې لړ کې مو د افغانستان په پخوانی ملي شورا کې د سره رود د ولسوالۍ د وکیل ښاغلي عبدالله جبار خېل (مشهور په لعل آغا) د مېرمنې، د شینوارو د لویې ولسوالۍ د قومي شورا د مشر: رئیس حکمت الله خان شینواری، د هیواد د تکړه شاعر ، لیکوال او ښوونکی محمد عثمان نژند ، په مصر کې د قاهرې غږ د پښتو خپرونې د تکړه ویاند استاد ډاکتر محمد امان صافي، د قمر الدین جبارخیل د مور او د استاد حسن الملک (امانزی) د مور د مړینې خبرونه ترلاسه کړی دی.

د افغان نشراتي مرکز او ارادې خپرونې مشر ، کار کوونکي او غړی د خپلو د غو هیوادوالو د وفات له امله د دوی له درنو کورنیو سره د ژورې خواخوږۍ او ډاډ گیرنې څرگندونه کوي. د غو وفات شویو خویندو او وروڼو ته د الله (ج) له دربار نه د ښېنې او مغفرت او د هغوی وارثینو ته د جمیل صبر او اجر غوښتنه کوي.

ارواح دې یې ښادې وي.

علت عمده مهاجرت افغانها را جنگ و گرسنگی ...

مرد م جهان از وضع ناگوار آنها آگاهي حاصل نموده و در کمك به ايشان اقدام نمايند.
در جلوزو آنچه به وضاحت ديده مي شد وضعيت ناراحت کننده مهاجرين افغان بود ، اينجا در کمپ وضع تاحدي خراب و ناگوار است که تصور آن مشکل مي نمايد به ده ها هزار انسان فاقد ابتدايي ترين شرايط زندگي عادي انساني ، شب و روز را سپري می نمايند بدون اينکه کوچکترين قدمي در راه بهبود بخشيدن به وضع شان برداشته شده باشد.
تنها روشني ايکه درين تاريکي بنظرم رسيد عبارت از روحيهء برادري، دوستي و همکاري بود که در بين مهاجرين پشتون، تاجك ، ازبك ... درين کمپ وجود داشت.زيرا آنها دريك فضاي خالي از بدبيني ها و تعصبات درپهلوي هم و برادروار مي زيستند.اينها که عمدتاً از مناطق شمال کشور آمده اند، علت عمدهء مهاجرت شانرا جنگ و گرسنگي مي خوانند . البته بايد يادآور گرديد که گرسنگي و قحطي خود زادهء جنگ دوامدار و خانمانسوز در کشور است.
مطابق اظهارات مهاجرين کمپ جلوزو و بر اساس آنچه که من قبلاً يادآور شدم بزرگترين علت مهاجرشدن افغانها به خارج از کشور، جنگ خانمانسوز ميباشد، تا صلح و آرامي به کشور عزيز ما برنگردد سلسلهء مهاجرتها همچنان دوام خواهد داشت.
بي بي مريم گيلاني در رابطه با موجوديت مشکلات در راه رسيدن کمك ها و جلب مساعدت ها به مهاجرين گفت:
مشکل عمده در راه رسيدن کمکها به مهاجرين کمپ جلوزو عبارت از راجستر نشدن وبي سرنوشت ماندن آنهاست . سازمان ملل متحد نيز تا رفع شدن اين مانع خود را در امر رساندن کمکهاي بشري عاجز مي داند پس در قدم اول بايد اين مانع برطرف گردد.
من درطول سالهاي جهاد و بعد از آن حتي الوسع کوشش نموده ام تا در ساحهٔ رساندن کمکهاي بشري به هموطنانم فعاليت نمايم. بعنوان مثال: از مدت زبادي بدينسو پروگرامهاي تعليمي را براي مهاجرين ترتيب نموده و آنرا تمويل نموده ام و همچنان از اثر دعوت ما جمايما خان به کمپ جلرز و آمد تا به چشم خود از وضع مردم ديدن کنند و اکنون نيز مصروف رساندن صداي آنها به جهانيان و بخصوص جهان غرب است.
اميد مينمايم که ساير جهانيان و بخصوص افغانهاي مقيم کشور هاي غربي صداي دعوت ما را شنيده به آن لبيك بگويند و به کمك افغانهاي مهاجر بشتابند. اميد وارم که خداوند متعال ما را دراين زمينه ياري رساند.

عکس: بی بی مریم گیلانی و جمایماخان هنگام باز دید ازکمپ جلوزو

در جلوزو چی میگذرد؟

فریاد مهاجرین افغان

نمیدانیم ، این چی ظلمی است برمردم افغان که پایان نمی یابد

«جنگ و خشکسالی از خانه و کاشانه آواره مان ساخت. به این امید که پاکستان یك کشور برادر واسلامی است از مزار شریف با هزاران مشکل خود را به این جا رسانیدیم واینك سه ماه می شود که در کمپ جلوزو زیر چتر دو سه متر پلاستیك زنده گی سخت و طاقت فرسا ی را با خانواده و کودکان خویش ادامه میدهیم، با عالمی از بدبختی ها ومشکلات دست و گریبان بوده به دوا، داکتر، لباس ، خیمه، سرپناه و غذا دسترسی نداریم،.
یگانه آرزویم تامین صلح وامنیت درکشور خودمان می باشد از جهانیان وسازمانهای صلح دوست جهان استدعا می کنم بخاطر نجات زنده گی افغانها و قطع جنگ در کشور مان اقدامات دلسوزانه و بشر دوستانه یی را عملاً راه اندازی نمایند.»
(هاجره)
« اصلاً باشنده ولسوالی پنجشیر هستم سه ماه می شود که دراین کمپ جابجا ساخته شده ایم . با ریزش باران وجاری شدن سیل سرپناه ما در بلاك ۲۲ کمپ جلوزو که از تکه پاره ها و بوری های کهنه بنا یافته بود کاملاً از بین رفت یك عده کودکان و در حدود پنجاه و دو زن مفقود شده اند.نمی دانم این چه ظلمی است بالای مردم افغانستان که خاتمه نمی یابد در آنجا در افغانستان زیر باران بمب وراکت به هلاکت می رسیم و دراینجا از بی توجه بودن و بی پروایی مقامات مسوول امور مهاجرین و سازمانهای امدادرسانی بامرگ تدریجی ورنج جانکاه آن دست و گریبان گردیده ایم. سه ماه است که هر کدام می آیند و فلمهای «سینمایی» شانرا تهیه کرده می روند عقب کارشان، صدای ما افغانهای معصوم و مظلوم را که بدون سرپناه و غذا دراین دشت زیر باران و کنار سیلاب نشسته ایم و با فرارسی موسم گرما دراین کمپ که اصلاً جای مناسبی برای ایستاده کردن خیمه و ساختمان بد رفت وجود.ندارد وضعیت ما وخیم تر خواهد شد. کسی نمی شنود ، کسی به داد ما نمی رسد و به حال ما توجه نمی کند. ما در مجموع چارده هزار فامیل دراین کمپ زنده گی داریم بحال ما و کودکان ما کسی رحم نمی کند آیا ما بشر نیستیم ، انسان نیستیم، حق زنده ماندن و زنده گی کردن نداریم؟
اگر اینطور است پس بیایند یك مهربانی درحق ما بکنند یك « چیزی» برای همه ما بدهند تا یکجا همه با هم هلاك شویم تا داغ همدیگر را نبینیم.»
شاه لالا:
« من باشنده ولسوالی بگرام ولایت پروان هستم، منطقه ما در نقطه تقابل نیروهای جنگی قرار دارد، هر بار پس از هر زدو خورد گاهی بنام طالب و گاهی بنام شرو فساد ما را زجر و شکنجه میدادند، نمی دانم که ما مسلمان بوده و یا نیستیم ویا آنها از مسلمانی و حقوق مسلمانان آگاهی ندارند ، سه ما میشود که دراینجا پناه آورده ایم ، وضعیت اینجا هم بدتر از مرگ است خانه و سرپناهی وجود ندارد.
از سازمان ملل متحد می خواهم با ملت افغان بخاطر تعیین حق سرنوشت شان شان کمك کنند، صلح را در کشور ما اعاده کنند و یا اینکه همه ما را دراین کمپ بمباردمان کنند تا همه بمیریم زیرا دیگر راه چاره و وسیله یی برای ما مردم افغانستان باقی نمانده است در وطن جنگ ، بدبختی ، اهانت ، گرسنگی و بیکاری ادامه دارد و در اینجا بیداد وضعیت موجود را که شما خود به سرو چشم شاهد هستید.»
حمید گل:
«دونیم ماه میشود که از اثر جنگ و خشکسالی مهاجر شده ایم، طرف های

بقیه در ص۷

جنرال دوستم قصد تصرف مزارشریف را دارد

۸- اپریل:
به گزارش منابع خبري بين المللي جنرال عبدالرشيد دوستم رهبرجنبش ملي اسلامي به افغانستان برگشته وعملاً در جمع مخالفين طالبان قرار گرفته است.
طبق يك خبر ديگر طي جلساتي که بخاطر دفاع از مناطق تحت کنترول مخالفين طالبان در ولايت بدخشان تحت رياست پروفيسور برهان الدين رباني تدوير يافته بود تصاميمي بخاطر رهايي ولايات تخار و بلخ از تصرف طالبان اتخاذ شد.
به گزارش منابع ائتلاف شمال، جنرال دوستم به دعوت مقامات اين ائتلاف داخل افغانستان شده وحاضر است عليه طالبان بجنگد و مزار شريف را تصرف نمايد. گزارش مي افزايد ، مسوولیت تصرف مزار شريف بعهدهٔ جنرال دوستم وبه کنترول درآوردن ولايت تخار به عهده ساير قوماندان مخالف طالبان خواهد». همچنان حاجي عبدالقدير والي اسبق ولايت ننگرهار وظيفه گرفته است تا عمليات نظامي را عليه طالبان در ولايات ننگرهار ، کنر و لغمان راه اندازي نمايد.
بگزارش راديو صداي آلمان و آژانس خبررساني رويتر ، جنرال دوستم عنقريب در رابطه با تلاش هاي نظامي اش بخاطر تامين صلح در افغانستان ابراز نظر خواهد کرد.

****

به اساس فرمان ملا محمد عمر رهبر طالبان بستن دستار شرط اساسی داخل شدن به محوطه مکتب که حال به مدرسه مسمی گردیده است ، دانسته می شود. کاش حاضر بودن مدرس و وسایل تدریس هم با این جدیدیت در نظر گرفته میشد.
عکس: بستن اجباری دستار را توسط شاگردان در نزدیکی دروازه مکتب (مدرسه) نادریه درکابل نشان میدهد.

IN THIS ISSUE:

1/ EDITORIAL:
"This wool may not be processed to produce a blanket"
(In relationship to the attempts carried on in Rome and Cyprus Assemblies or battle. Pag 2
2/†Afghans living here are political refugees, not economic refugees. by M. Asif Samim. Page 1
3/ War or Jirga. by Minatbar Page-4
4/ What is going on in Jalozo camp. Page-8
5/ Rome process and it's differences with Cyprus Process. An interview with Hedayat Amin Arsalah. Page 1
6/ Interview with Bibi Mariam Gilani on the situation of the new arrivals in Jalozo Afghan refugee camp.
7/Press release of the Ex-king from the Rome on disagreements with the Cyprus. Page 1
8/ An article on Taliban Narrow mindedness. Page 6
9/ "Winter passes while black faces remain as coal (an article on Pakistan Afghan policy) by Mujahid Page 2
10/ Taliban met an American delegation in Qatar Page1
11/ Ahmad Shah Masoud return from Europe Page 1
12/ Gen. Musharaf views on Afghanistan Page 1
13/Poverty pains (comments on the Afghans forced repatriation from Pakistan).by Alibtageen page 1
14/ Thousands of Government employees were fired from their Jobs. Page 1
15/Deployment of ten thousands Taliban to Afghanistan Page-6
16/Returning of General Dostum and his intentions. Page-8
17/an article on Nawroz celebrations Page-5
18/ Letters Received. Page-5
19/Peoms Page -5
20/A sport news page 7

ERADA
Bi- Weekly, Independent publication
Publisher: Afghan Media Resorce Center
Founder: Sayed Daud
Chief Editor: Atiqullah Pazhwak
Add: House #2, Canal Bank Road, U.P.O.Box No.909
University Town, Peshawar Pakistan.
Tel:(92-91) 41691. Fax:841785
E-mail : amrc@brain.net.pk
Subscription Rate:
In USA, Europe & Australia 30 US$
Regional Countries 15US$
Pakistan Rs. 100
US$ A/C: No. 01801406
Bank Al-Falah Ltd, 6-B, Islamia Road, Peshawar Cantt
You can remit your donations to the above account No.

اراده
دمقالو په انتخاب کې واکمنه ده. هره مقاله دليکوال دنظر څرگندونه کوي.
رارسېدلي مقالي بېرته نه ورکول کېږي.
دگډون کلنې بيه:
په امريکا، اروپا او استراليا کې: ۳۰ امريکايي ډالر
دسيمې په هېوادونو کې: ۱۵ امريکايي ډالر
په افغانستان کې: ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ
په پاکستان کې: ۱۰۰ کلداري
دشپږمياشتو لپاره نيمه بيه. دپوستي لگښت داداري په غاړه دی.
ديوې گڼې بيه: ۳ روپۍ
A/C US$ 01801406
الفلاح بانک، ٦ ب، اسلاميه روډ، پېښور
دلاس ته راوړلو ځايونه دپېښور ټول اخبار پلورنځي